د افغانستان اسلامي جمهوري دولت
د احصائیې مرکزي اداره

# اقتصادي- ټولنیزه او دیموګرافیکي سروې





# کاپیسا






دلازیاتو معلوماتو لپاره دلاندینی پتې سره اړیکه ټینګه کړی:

نوم: عید مرجان سمون

دلیک لیکلو شمیره: ۱۲۵۴ انصاري واټ،کابل، افغانستان.

اړیک شمیره: ۰۰۹۳۲۰۲۱۰۴۳۳۸

برېښنا لیک: mail@cso.gov.af

ویبپاڼه: www.cso.gov.af



خپرونکی: د جولي پوهلوسکي مشاورتي اداره او علی محقق.

باندنی پوښ او انځورونه: دملګرو ملتونو ددوګړو صندوق افغانستان / ۲۰۱۲ (UNFPA) او داحصایې مرکزي اداره

# اقتصادی - ټولنیزه او دیموګرافیکي سروې

# کاپیسا



# د احصائیې مرکزي ادارې پیغام

کله چې د احصائیې مرکزي ادارې د اقتصادي- ټولنیزې او دیموګرافیکي سروې لومړنی کار چې په ۱۳۹۰ کال کې په بامیانو کې تطبیق شوه، پیل کړ دې درک شتون درلود چې یو لوې کار په مخ کې دی.

د ۱۳۵۸ کال را په دې خوا د دریو لسیزو څخه د زیاتې مودې لپاره په افغانستان کې هیڅ سرشمیرنه نده تر سره شوې. د نفوسو نوموړې نیتې څخه تر اوسه، وخت او پیښو د افغاني ټولنې ځیرې ته بدلون ورکړې ده، لا تر اوسه د سیمه ایزې پرمختیا پلان جوړوونکي، د برنامو مدیران او د پروژو ارزوونکي د ځانګړو ارقامو له کمبود سره مخ دي چې پر مټ ئې د خپلو پلانونو، څارنې او ارزونې بنسټ کیږدي.

په هغه وخت کې مو دا درک کوله چې ستونزې ډیرې لوئې دي. د ملګرو ملتونو د وګړو صندوق په تخنیکي او د جاپان حکومت په مالي ملاتړ سره مو کار پیل کړ. اوس په دې ویاړم چې د شپږمې اقتصادي- ټولنیزې او دیموګرافیکي سروې پایلې د کاپیسا ولایت لپاره وړاندې کوو.

که څه هم د کاپیسا ولایت په افغانستان کې ډیر وړکوټی ولایت دی، خو شته ستونزې په کې ډیرې دي. د نا امنی له کبله د اوو ولسوالیو څخه دوه ولسوالی سروې نکړاې شوې. په نورو ولسوالیو کې د سروې ټیمونه د ټولنې د نقشو برابرولو، ټولو کورنیو ته د رسیدو او د سروې د اړتیا وړ ارقامو د راټولولو په خاطر د کمزورې امنیت او پیچلې اراضي له کبله د ستونزو سره مخامخ وو.

د زړورو او زیار ایستونکو سرویرانو او سوپروایزرانو څخه په مننې سره، لکه څرنګه چې د احصائیې مرکزي ادارې کارکوونکو په واسطه بیان شوه، په ستونزو لاس بري شوو. همدارنګه د کاپیسا له ښاغلي والي، مسؤلسینو او د ولایت له نورو سیمه ایزو کارکوونکو څخه د سروې څنې د بشپړ ملاتړ په خاطر او د ځواب ورکوونکو څخه د کورنیو په اړه ئې د معلوماتو د ورکولو په خاطر د مننې څرګندونه کیږي.

په پایله کې کاپیسا د ولایتونو د کوچنی خو مخ په زیاتیدونکي ډلې سره یو ځاې کیږي چې په کښې په لوړ کیفیت سره ټولنیز او دیموګرافیکي ارقام په لاس کې شته. په داسې حال کې چې زمونږ ټیمونه نورو ولایتونو ته خوځیږي ویاړ لرو چې د ملګرو ملتونو د وګړو صندوق او نورو شریکانو سره مو د کاپیسا ولایت د نقشې ایستنې د اهمیت وړ دنده کې په ګډه کار وکړ او د کاپیسا د اړتیاوو محسوستیا مو تضمین کړه.

شیر محمد جامي زاده

د احصائیې مرکزي ادارې لوې رئیس

# د ملګرو ملتونو د وګړو صندوق پيغام

يوازې هرکله چې پخپل وخت او د باور وړ ارقام شتون ولري کيدلای شي چې نيول شوي تصميمونه د محدودو سرچينو په شرايطو کې د جمعيت په ګټه وي. له دې کبله د کاپيسا د اقتصادي- ټولنيزې او ديموګرافيکي سروې د پايلو خپرول يو با اهميته مناسبت دی. د ۱۳۵۸ کال را په دې خوا مونږ د لومړي ځل لپاره د دې ولايت د خلکو او د ټولنو په هکله چې په کښې ژوند کوي، سکيچ لرو. اقتصادي- ټولنيزه او ديموګرافيکي سروې د هغه ارقامو د يوې اوږدې مودې د نشتوالي د له منځه وړلو لپاره چې د وګړو، اړتياوو، سرچينو او د هغه ټولنې د شبکې څخه چې ور څخه ملاتړ کوي د تصوير وړاندې کولو د حل يوه نوښتګره لار ده. دا عمليه همدا راز د حل يوه بريالۍ لاره ده. اقتصادي- ټولنيزه او ديموګرافيکي سروې تر دې دمه په شپږو ولايتونو کې تطبيق شوې او په اووم ولايت کې جريان لري.

د ملګرو ملتونو د وګړو صندوق لپاره د وياړ ځای دی چې په دې تاريخي عمليه کې ئې ونډه اخيستې ده. اقتصادي- ټولنيزه او ديموګرافيکي سروې لومړنۍ عمليه ده چې د عمر، جنس او ولسوالۍ په توپير ارقام په کښې توحيد شوي دي. اقتصادي- ټولنيزه او ديموګرافيکي سروې د ولسوالۍ په کچه د ارقامو د برابرولو له لارې چې کيدلای شي د ولايت او خلکو اړوند ئې د ربښتيني وضعيت د شنني او درک لپاره د استفادې وړ وګرځي، د تفصيل بې مخينه کچه برابروي.

د ملګرو ملتونو د وګړو صندوق، د پلان جوړونې، تطبيق او د ارقامو د شنني په پړاونو کې د احصائيې مرکزي ادارې لپاره تخنيکي مرسته برابره کړه او د درييم ګړي خوا له څارونکو سره ئې کار وکړ تر څو د دې عمليې څخه تصديق او ډاډ حاصل شي چې ټولو ګډونوالو وضعه شوي مقررات رعايت کړي او بشپړ پوښښ تر لاسه شي.

د ملګرو ملتونو د وګړو صندوق په استازيتوب د احصائيې مرکزي ادارې د لوې رئيس شيرمحمد جامي زاده تر لارښوونې لاندې د احصائيې مرکزي ادارې د کارکوونکو د نه ستړي کيدونکو کوښښونو او د جاپان حکومت د مالي مرستې څخه چې د اقتصادي-ټولنيزې او ديموګرافيکي سروې د برياليتوب لپاره د بنسټيز اهميت درلودونکي ده، مبارکي وايم. د دې راپور خپرول يوه ګډه لاسته راوړنه ده او ګټه ئې په راتلونکو کالونو کې د ټولې کاپيسا لپاره پراختيا مومي.

داکتر انت ساچس رابرتسن

د ملګرو ملتونو د وګړو صندوق استازی



# د سرلیکونو نوملړ

د احصائیې مرکزي ادارې پیغام ........ ۱
د ملګرو ملتونو د وګړو صندوق پیغام ........ ۲
د سرلیکونو نوملړ ........ ۴
جدولونه ........ ۵
شکلونه ........ ۷
چوکاټونه ........ ۱۰
۱. د کابل پروفایل ........ ۱۲
۲. سریزه ........ ۱۳
۳. موخې ........ ۱۳
۴. متودولوژی ........ ۱۴
۵. پوښښ ........ ۱۵
۶. نظارت او څارنه ........ ۱۵
۷. د ارقامو پراسس ........ ۱۶
۸. د سروې پایلې ........ ۱۶
۸.۱ د نفوسو ځانګړتیاوې ........ ۱۶
۸.۲ سواد ........ ۲۴
۸.۳ د زده کړې درجه ........ ۲۶
۸.۴ مهاجرت ........ ۲۹
۸.۵ اقتصادي فعالیت ........ ۳۳
۸.۶ وظیفوي ستونزې ........ ۴۵
۸.۷ زیږیدنې ........ ۴۷
۸.۸ د زیږیدنې ثبتول ........ ۵۰
۸.۹ مړینې ........ ۵۲
۸.۱۰ د والدینو د ژوندیتوب حالت ........ ۵۳
۸.۱۱ د کورنۍ ځانګړتیاوې ........ ۵۵
۸.۱۲ د هستوګنځي ځانګړتیاوې ........ ۶۱
ضمیمې ........ ۶۷
مآخذونه ........ ۷۰

# جدولونه

**۱ جدول** د نفوس د ویش سلنه د ولسوالۍ په توپیر: کاپیسا، ورری ۱۳۹۳

**۲ جدول** د نفوس د جنس نسبت د عمر د ګروپ او ولسوالۍ په توپیر: کاپیسا، ورری ۱۳۹۳

**۳ جدول** په کالونو د نفوس د عمر میدیان د ولسوالۍ په توپیر: کاپیسا، ورری ۱۳۹۳

**۴ جدول** د نفوس د سلنې ویش د عمر د ګروپ، د زاړو- ماشومانو نسبت او ولسوالۍ په توپیر: کاپیسا، ورری ۱۳۹۳

**۵ جدول** د باردوشي عمر نسبت د ولسوالۍ په توپیر: کاپیسا، ورری ۱۳۹۳

**۶ جدول** د ۲۰-۲۴ او ۵۰-۵۹ کلنۍ عمر د نارینه و او ښځینه و د ویش سلنه د مدني حالت په توپیر: کاپیسا، ورری ۱۳۹۳

**۷ جدول** د عمر میدیان د لومړني واده پر مهال د جنس او ولسوالۍ په توپیر: کاپیسا، ورری ۱۳۹۳

**۸ جدول** د نارینه و او ښځینه و لپاره د سواد میزانونه د عمر د عمده ګروپونو او ولسوالۍ په توپیر: کاپیسا، ورری ۱۳۹۳

**۹ جدول** د ټول نفوس د سلنې ویش ( دواړه جنسونه) ۲۵ کلن او پورته د لوړ ټولګي د بشپړیدنې او ولسوالۍ په توپیر: کاپیسا، ورری ۱۳۹۳۹

**۱۰ جدول** د ۲۵ کلن او پورته نارینه نفوس د سلنې ویش د لوړ ټولګي د بشپړیدنې او ولسوالۍ په توپیر: کاپیسا، ورری ۱۳۹۳

**۱۱ جدول** د ۲۵ کلن او پورته ښځینه نفوس د سلنې ویش د لوړ ټولګي د بشپړیدنې او ولسوالۍ په توپیر: کاپیسا، ورری ۱۳۹۳

**۱۲ جدول** د حضور خالص نسبت د جنس، د زده کړې د درجې او ولسوالۍ په توپیر: کاپیسا، ورری ۱۳۹۳

**۱۳ جدول** د نږې ته د راستانه شوي نفوس نسبت د مخکینۍ هستوګنې او ولسوالۍ په توپیر: کاپیسا، ورری ۱۳۹۳

**۱۴ جدول** د نفوس د سلنې ویش د زیږیدنې د ځای او ولسوالۍ په توپیر: کاپیسا، ورری ۱۳۹۳

**۱۵ جدول** دننۍ ته د راستانه شویو د سلنې ویش په اوسنۍ ولسوالۍ کې د هستوګنې د مودې او ولسوالۍ په توپیر: کاپیسا، ورری ۱۳۹۳

**۱۶ جدول** دننۍ ته د راستانه شویو د سلنۍ ویش د ولسوالۍ په توپیر د ۱۳۹۰ کال په نوروز کې: کاپیسا، ورری ۱۳۹۳

**۱۷ جدول** د ۱۵ کلن او تر هغې پورته عمر نفوس سلنه د کار، د سواد د وضعیت او ولسوالۍ په توپیر: کاپیسا، ورری ۱۳۹۳

**۱۸ جدول** د ۱۵ کلن او تر هغې پورته نفوس د سلنې ویش چې تر سروې دمخه ۱۲ میاشتو کې ئې کار کاوه د کسب د عمده ګروپ او ولسوالۍ په توپیر: کاپیسا، ورری ۱۳۹۳

**۱۹ جدول** د ۱۵ کلن او تر هغې پورته نفوس د سلنې ویش چې تر سروې دمخه ۱۲ میاشتو کې ئې کار کاوه د صنعت د عمده ګروپ او ولسوالۍ په توپیر: کاپیسا، ورری ۱۳۹۳

**۲۰ جدول** د ۵ -۱۷ کلنۍ ماشومانو د سلنې ویش د کار د وضعیت، جنس، د عمر ګروپ او ولسوالۍ په توپیر: کاپیسا، ورری ۱۳۹۳

**۲۱ جدول** د ۱۵-۴۹ کلنۍ عمر میرمنو د سلنې ویش چې وادونه ئې کړي د زیږیدلو ماشومانو د شمیر او د ښځې د عمر په توپیر: کاپیسا، ورری ۱۳۹۳

**۲۲ جدول** د زیږیدلو ماشومانو میانه شمیر د ۱۵-۴۹ کلنۍ عمر د واده کړیو میرمنو ترمنځ د ښځې د عمر او ولسوالۍ په توپیر: کاپیسا، وړی ۱۳۹۳

**۲۳ جدول** د زیږیدنې ټولیز میزانونه، د زیږیدنې عمومی میزانونه او د زیږیدنې ناخالص میزانونه د ولسوالۍ په توپیر: کاپیسا، وړی ۱۳۹۳

**۲۴ جدول** تر ۵ کلنې عمر لاندې نفوس لپاره د ثبت شویو زیږیدنو سلنه د جنس او ولسوالۍ په توپیر: کاپیسا، وړی ۱۳۹۳

**۲۵ جدول** د نوي زیږیدلو مړینې او تر ۵ کلنۍ لاندې مړینې د میزانونو اټکل د جنس په توپیر: کاپیسا، وړی ۱۳۹۳

**۲۶ جدول** د کورنیو د سلنې ویش د اندازې او د کورنۍ د منځنۍ اندازې او ولسوالۍ په توپیر: کاپیسا، وړی ۱۳۹۳

**۲۷ جدول** د کورنیو د سلنې ویش د ښمباک د اوبو دغوره سرچینې او ولسوالۍ په توپیر: کاپیسا، وړی ۱۳۹۳

**۲۸ جدول** د کورنیو د سلنې ویش د پریمنځلو، پخلي او د کورنۍ د نورو اړتیاو لپاره د اوبو د غوره سرچینې او ولسوالۍ په توپیر: کاپیسا، وړی ۱۳۹۳

**۲۹ جدول** د کورنیو نسبت د څارویو او مرغانو د مالکیت، ډول او ولسوالۍ په توپیر: کاپیسا، وړی ۱۳۹۳

**۳۰ جدول** د کورنیو نسبت د شتمنۍ/ آسانتیا د ډول د شتون په توپیر: کاپیسا، وړی ۱۳۹۳

**۳۱ جدول** د کورنیو د سلنې ویش د هستوګنځي د بام د عمده ساختماني موادو او ولسوالۍ په توپیر: کاپیسا، وړی ۱۳۹۳

**۳۲ جدول** د کورنیو د سلنې ویش دهستوګنځي د باندنیو دیوالونو د عمده ساختماني موادو او ولسوالۍ په توپیر: کاپیسا، وړی ۱۳۹۳

**۳۳ جدول** د کورنیو د سلنې ویش د هستوګنځي د غولي د عمده موادو او ولسوالۍ په توپیر: کاپیسا، وړی ۱۳۹۳

**۳۴ جدول** د کورنیو د سلنې ویش د هستوګنې واحد د تصرف د وضعیت او ولسوالۍ په توپیر: کاپیسا، وړی ۱۳۹۳

**۳۵ جدول** د کورنیو د سلنې ویش د تشناب د آسانتیا د ډول او ولسوالۍ په توپیر: کاپیسا، وړی ۱۳۹۳

**۳۶ جدول** د کورنیو د سلنې ویش د هستوګنې واحد د هغو کوټو د شمیر چې په واک کې ئې لري او د کورنۍ د اندازې په توپیر: کاپیسا، وړی ۱۳۹۳

**۳۷ جدول** د کورنیو د سلنې ویش د هستوګنځي د کوټو د شمیر چې په واک کې ئې لري او ولسوالۍ په توپیر: کاپیسا، وړی ۱۳۹۳

**۳۸ جدول** د کورنیو د سلنې ویش د ویده کیدو لپاره د کوټو د شمیر او د کورنۍ د اندازې په توپیر: کاپیسا، وړی ۱۳۹۳

**الف ۱ جدول** د عمر د رجحان شاخص د ولسوالۍ په توپیر: کاپیسا، وړی ۱۳۹۳

**الف ۲ جدول** د عمر او جنس د دقت شاخص د ولسوالۍ په توپیر: کاپیسا، وړی ۱۳۹۳

# شکلونه


| | |
|---|---|
| **۱ شکل** | د افغانستان نقشه |
| **۲ شکل** | د نفوس ګڼوالی د ولسوالۍ په توپیر: کاپیسا، وړی ۱۳۹۳ |
| **۳ شکل** | د کاپیسا د نفوس هرم: وړی ۱۳۹۳ |
| **۴ شکل** | د نارینه نفوس د ویش سلنه د مدني حالت او د عمر د ګروپ په توپیر: کاپیسا، وړی ۱۳۹۳ |
| **۵ شکل** | د ښځینه نفوس د ویش سلنه د مدني حالت او د عمر د ګروپ په توپیر: کاپیسا، وړی ۱۳۹۳ |
| **۶ شکل** | د ۲۰-۲۴ او ۵۰-۵۹ کلنې عمر د نارینه و او ښځینه و د ویش سلنه د مدني حالت په توپیر: کاپیسا، وړی ۱۳۹۳ |
| **۷ شکل** | د سواد میزان د عمر او جنس په توپیر: کاپیسا، وړی ۱۳۹۳ |
| **۸ شکل** | ۲۴-۷ کلن نارینه نفوس د سلنې ویش کوم چې د سروې پر مهال ښوونځې ته ندي شامل د لوړ ټولګې د بشپړیدنې او ولسوالۍ په توپیر: کاپیسا، وړی ۱۳۹۳ |
| **۹ شکل** | د ۲۴-۷ کلن ښځینه نفوس د سلنې ویش کوم چې د سروې پر مهال ښوونځې ته ندي شامل د لوړ ټولګې د بشپړیدنې او ولسوالۍ په توپیر: کاپیسا، وړی ۱۳۹۳ |
| **۱۰ شکل** | دننې ته د راستانه شوي نفوس نسبت د جنس او ولسوالۍ په توپیر: کاپیسا، وړی ۱۳۹۳ |
| **۱۱ شکل** | د ننې ته د راستانه شویو د سلنې ویش نظر د ولایت دننې د راستانه شویو ټولیزې ته د ولسوالۍ په توپیر: کاپیسا، وړی ۱۳۹۳ |
| **۱۲ شکل** | د ۱۵ کلن او تر هغې پورته عمر نفوس سلنه د کار د ځرنګوالي او جنس په توپیر: کاپیسا، وړی ۱۳۹۳ |
| **۱۳ شکل** | د ۱۵ کلنو او تر هغې پورته عمر نفوس سلنه چې د سروې ۱۲ میاشتې دمخه ئې کار کړې د جنس او ولسوالۍ په توپیر: کاپیسا، وړی ۱۳۹۳ |
| **۱۴ شکل** | د ۱۵ کلن او تر هغې پورته عمر نفوس سلنه د کار د ځرنګوالي او ولسوالۍ په توپیر: کاپیسا، وړی ۱۳۹۳ |
| **۱۵ شکل** | د ۱۵ کلن او تر هغې پورته عمر نفوس سلنه د کار د ځرنګوالي او د عمر د ګروپ په توپیر: کاپیسا، وړی ۱۳۹۳ |
| **۱۶ شکل** | د ۱۵ کلنې او تر هغې پورته عمر نفوس سلنه چې تر سروې ۱۲ میاشتې دمخه ئې کار نه دې کړې د کار لپاره تیار وو یا نه او د ولسوالۍ په توپیر: کاپیسا، وړی ۱۳۹۳ |
| **۱۷ شکل** | د ۱۵ کلنو او تر هغې پورته نفوس سلنه چې کار ئې نه کاوه خو د کار په لټه او د کار لپاره تیار وو نظر د ۱۵ کلنو او تر هغې پورته عمر نفوس پر وړاندې د جنس او ولسوالۍ په توپیر: کاپیسا، وړی ۱۳۹۳ |

| | |
|---|---|
| **۱۸ شکل** | د ۱۵ کلن او تر هغې پورته نفوس سلنه د کار د څرنګوالي، د لوړ ټولګي د بشپړیدنې او جنس په توپیر: کاپیسا، وری ۱۳۹۳ |
| **۱۹ شکل** | د ۱۵ کلن او تر هغې پورته عمر نفوس سلنه چې تر سروې ۱۲میاشتې دمخه ئې کار کړې د بشپړ شوی لوړ ټولګي او ولسوالی په توپیر: کاپیسا، وری ۱۳۹۳ |
| **۲۰ شکل** | د ۱۵ کلن او تر هغې پورته عمر نفوس د سلنې ویش هغوې چې تر سروې ۱۲میاشتې دمخه ئې کار کاوه، د کسب د عمده ګروپ او جنس په توپیر: کاپیسا، وری ۱۳۹۳ |
| **۲۱ شکل** | د ۱۵ کلن او تر هغې پورته نفوس د سلنې ویش چې تر سروې دمخه ۱۲میاشتو کې ئې کار کاوه د صنعت د عمده ګروپ او جنس په توپیر: کاپیسا، وری ۱۳۹۳ |
| **۲۲ شکل** | د ۱۵ کلن او تر هغې پورته عمر نفوس د ویش سلنه چې تر سروې دمخه ۱۲ میاشتو کې ئې کار کاوه د استخدام د وضعیت او جنس په توپیر: کاپیسا، وری ۱۳۹۳ |
| **۲۳ شکل** | د ۱۵ کلن او تر هغې پورته عمر نفوس د ویش سلنه چې تر ۱۲میاشتې دمخه ئې کار کاوه د استخدام د وضعیت او ولسوالی په توپیر: کاپیسا، وری ۱۳۹۳ |
| **۲۴ شکل** | د ۵ -۱۷کلنو کارګر ماشومانو د سلنې ویش د ولسوالی په توپیر: کاپیسا، وری ۱۳۹۳ |
| **۲۵ شکل** | د ۱۷-۵ کلنو ماشومانو سلنه چې تر سروی دمخه ۱۲میاشتو کې ئې کار کړې د جنس او په ښوونځي کې د حضور په توپیر: کاپیسا، وری ۱۳۹۳ |
| **۲۶ شکل** | د ۵- ۱۷کلنو ماشومانو سلنه چې تر سروې دمخه ۱۲میاشتو کې ئې کار کړې د عمر د ګروپ او په ښوونځي کې د حضور په توپیر: کاپیسا، وری ۱۳۹۳ |
| **۲۷ شکل** | د ۵- ۱۷کلنو ماشومانو د سلنې ویش د جنس او کسب په توپیر: کاپیسا، وری ۱۳۹۳ |
| **۲۸ شکل** | د ۵ کلنو او تر هغې پورته عمر نفوس سلنه د وظیفوي ستونزې سره د جنس په توپیر: کاپیسا، وری ۱۳۹۳ |
| **۲۹ شکل** | د ۵ کلونو او تر هغې پورته عمر نفوس سلنه د وظیفوي ستونزې سره د ولسوالی په توپیر: کاپیسا، وری ۱۳۹۳ |
| **۳۰ شکل** | د ۵ کلونو او تر هغې پورته عمر د نفوس سلنه د وظیفوي ستونزې سره د جنس او د عمر د ګروپ په توپیر: کاپیسا، وری ۱۳۹۳ |
| **۳۱ شکل** | د ۵ کلونو او تر هغې پورته عمر نفوس سلنه د وظیفوي ستونزې سره د ستونزې د ډول او جنس په توپیر: کاپیسا، وری ۱۳۹۳ |
| **۳۲ شکل** | د ۵ کنونو او تر هغې پورته عمر نفوس سلنه د وظیفوي ستونزې سره د مدني حالت او جنس په توپیر: کاپیسا، وری ۱۳۹۳ |
| **۳۳ شکل** | د ځانګړې عمر د زیږیدنې میزانونه د کاپیسا، کوه بند او نجراب لپاره: کاپیسا، وری ۱۳۹۳ |
| **۳۴ شکل** | د ۵ کلنی عمر لاندې نفوس نسبت هغوې چې زیږیدنه ئې ثبت شوې د جنس په توپیر: کاپیسا، وری ۱۳۹۳ |
| **۳۵ شکل** | تر ۵ کلنې عمر لاندې نفوس لپاره د ثبت شویو زیږیدنو نسبت د ولسوالی په توپیر: کاپیسا، وری ۱۳۹۳ |

| | |
|---|---|
| **۳۶ شکل** | د ۵ کلنۍ عمر لاندې د يتيمو ماشومانو د والدينو د ژوندانه وضعيت: کاپيسا، وړی ۱۳۹۳ |
| **۳۷ شکل** | د ۵ کلنۍ عمر لاندې د يتيمو ماشومانو د والدينو د ژونديتوب حالت د ولسوالۍ په توپير: کاپيسا، وړی ۱۳۹۳ |
| **۳۸ شکل** | د کورنيو د سلنۍ ويش د پخلي لپاره د انرژۍ د غوره سرچينې او ولسوالۍ په توپير: کاپيسا، وړی ۱۳۹۳ |
| **۳۹ شکل** | د کورنيو د سلنې ويش د ګرمولو لپاره د انرژي د غوره سرچينې او ولسوالۍ په توپير: کاپيسا، وړی ۱۳۹۳ |
| **۴۰ شکل** | د کورنيو د سلنې ويش د روښنائي لپاره د انرژۍ د غوره سرچينې او ولسوالۍ په توپير: کاپيسا، وړی ۱۳۹۳ |
| **۴۱ شکل** | د څښاک اوبو رغاول شويو سرچينو ته د کورنيو د لاس رسي نسبت د ولسوالۍ په توپير: کاپيسا، وړی ۱۳۹۳ |
| **۴۲ شکل** | د کورنيو نسبت د کرهنيزي ځمکې د مالکيت او ولسوالۍ په توپير: کاپيسا، وړی ۱۳۹۳ |
| **۴۳ شکل** | د کورنيو نسبت د حفظ الصحې يوې رغول شوي آسانتيا ته د لاس رسي سره د ولسوالۍ په توپير: کاپيسا، وړی ۱۳۹۳ |
| **شکل الف ۱** | نفوس د عمر په منفرد کال کې د جنس په توپير: کاپيسا، وړی ۱۳۹۳ |

# چوکاټونه

| | |
|---|---|
| **۱ چوکاټ** | د عمر میدیان |
| **۲ چوکاټ** | د باردوشي ټولیز نسبت |
| **۳ چوکاټ** | د ۱۰ کلنو او تر هغې پورته عمر د سواد میزان |
| **۴ چوکاټ** | د ۱۵ - ۲۴ کلنۍ عمر ګروپ د سواد میزان |
| **۵ چوکاټ** | په لومړني ښوونځي کې د حضور موندني خالص میزان |
| **۶ چوکاټ** | د ۵ کلنې او تر هغې پورته عمر نفوس نسبت د وظیفوي ستونزې سره |
| **۷ چوکاټ** | د امیندوارۍ ټولیز میزان |
| **۸ چوکاټ** | ثبت شوي زیږونونه |
| **۹ چوکاټ** | د مړینې میزانونه |
| **۱۰ چوکاټ** | د والدینو د ژوندیتوب وضعیت |
| **۱۱ چوکاټ** | د کورنۍ منځنۍ اندازه |
| **۱۲ چوکاټ** | د کورنیو نسبت چې د ځنباک د اوبو له رغاول شویو سرچینو څخه استفاده کوي |
| **۱۳ چوکاټ** | د کورنیو نسبت چې د حفظ الصحې د آسانتاوو څخه استفاده کوي |
| **چوکاټ ۱ الف** | د عمر د رجحان شاخصونه |
| **چوکاټ ۱ الف** | د ملګرو ملتونو د عمر- جنس د دقت شاخص |

# ۱. د کاپیسا پروفایل

د کاپیسا ولایت د کابل په ۸۰ کیلو مترې کې شمال ختیځ لوري ته پروت دی. د شمال لوري ته د پنجشیر، ختیځ ته د لغمان، سهیل ته د کابل او سهیل لویدیځ ته د پروان سره ګډه پوله لری (۱ شکل). دغه ولایت د ۳۵,۰ په شمالي درجو او ۶۹,۷[1]ختیځو درجو کې پروت دی. که څه هم د هیواد یو ډیر کوچنۍ ولایت دی، خو کاپیسا په افغانستان کې د ترهګریزو چارو لپاره یو ستراتیژیک ولایت دی او له همدی کبله ورته" کابل ته د ورننوتو دروازه " ویل کیږي. د کاپیسا ولایت د بحر له سطحې څخه د ۱۵۰۰ مترو په لوړوالي کې پروت دی او ۱۸۴۲ کیلو متر مربع ساحه یې اشغال کړې ده. مرکز ئې محمود راقي ده او نورې ولسوالۍ ئې عبارت دي له : حصه دوم کوهستان، کوه بند، حصه اول کوهستان، نجراب، تګاب او اله ساې.

د ولایت له نیمائي څخه زیاته څمکه ( ۵۴ سلنه) غرنۍ او یا نیمه غرنۍ ده، په داسې حال کې چې د دوه پر پنځو څخه زیاته برخه ( ۴۳ سلنه) ئې هواره ده. د دې ولایت د غوره طبیعي سرچینو څخه د تلک کان، دوه سیندونه کوم چې ولایت په دو برخو ویشي او د جلغوزي ونې دي[2].

۱ شکل. د افغانستان نقشه




۱. https://www.google.com.af/#q=Kapisa+coordinates

۲. http://afghanag.ucdavis.edu/country-info/Province-agriculture-profiles/kapisa/Kapisa.pdf

# ۲. سریزه

اقتصادي- ټولنیزه او دیموګرافیکي سروې په ۱۳۹۰یم کال کې د احصائیې د مرکزي اداري لخوا د بامیانو په ولایت کې پیل شوه او اوس مهال د ملګرو ملتونو د وګړو صندوق په تخنیکي مرسته په نورو ولایتونو کې د تر سره کیدو په حال کې ده. د ولایتونو د څلورمې ډلي په توګه، کاپیسا د پروان ولایت سره یو ځای د ولایتونو څلورمه ډله ده چې اقتصادي- ټولنیزه او دیموګرافیکي سروې په کې تر سره کیږي او په ځینو ولسوالیو کې ئې د امنیتي ستونزو سره سره د ۱۳۹۳ کال د وږې په میاشت کې په بریالیتوب سره په دې ولایت کې سرته ورسیده.

دغه راپور د نفوس د ځانګړتیاو، سواد، د زده کړې درجې، کډوالي، استخدام، وظیفوي ستونزې، زیږیدنې، مړینې، د زیږونونو د ثبت او د والدینو د ژوندیتوب د وضعیت په اړه د جنس او ولسوالي په کچه ارقام وړاندې کوي. همدارنګه د کورنې او د هستوګنځې په اړه معلومات هم په کې شامل دي. د راپور موندنې به د پرمختیا د پلان جوړونکو او د پروګرانونو له تطبیق کوونکو سره مرسته وکړی تر څو په دې وتوانیږی د افغانانو د ژوندانه د ښه کیدو په موخه د ښو خدمتونو د وړاندې کولو لپاره هر اړخیزه او مناسبې پالیسې او پروګرانونه طرحه کړي.

د هیواد د زیاتره برخو په خیر امنیت په کاپیسا کې یوه ننګونه وه. په همدې دلیل د تګاب او اله سای ولسوالۍ تر پوښښ لاندی رانغلې او د هغوی د نفوس ځانګړتیاوې په دې راپور کې د لاس رسي وړ نه دي. سره د دې هم، د ولایت په کچه د غوره شاخصونو اټکل کیدلاې شي.

د دې لپاره چې ډاده شو چې د کیفیت په لوړه کچه ارقام راټول شي، د سروې کوونکو د روزنې له پیل څخه د سروې د شمیرنې تر ارقامو د پراسس پورې څو ځلې څارنې او نظارت صورت وموند.

# ۳. موخې

## ۳.۱ د شواهدو پر بنسټ تصمیم نیونه، د کړنلارې طرحه، پلان جوړونه او اداره

افغانستان په ۱۳۸۱ کال کې د پرمختیائي پروژو لپاره د سکتوریزه مرستو د زیاتې اندازه ترلاسه کول پیل کړل. ډیرې پروژې د وګړو او دیموګرافیکي د باور وړ ارقامو د شتون پرخلاف، په ځانګړي توګه د ولسوالیو او کلیو په اړه، طرحه او تطبیق شوې. د ارقامو دغه کمزورتیا په سیمه ایزه کچه د کړنلارو د فورمولبندي او د ستراتیژیکي پلان جوړونې خنډ کیده، د دقیقو اساسي ارقامو نشتوالی همدارنګه د پرمختګ د اندازه کونې او د لومړیتوب لرونکي نفوس موخه ګرځول او د اغیزناکو سرچینو د اختصاص لپاره ستونزې را ولاړولی. اقتصادي- ټولنیزه او دیموګرافیکي سروې داسې طرحه شوه څو دغو اندیښنو ته ځواب ووائی. د افغان کورنیو ټولنیز او اقتصادي بعدونه چې اقتصادي- ټولنیزه او دیموګرافیکي سروې ئې راټولوي داسې طرحه شوي دي ترڅو راټولونې ئې د کړنلارو په ښې طرحې کولو او د خدمتونو په وړاندې کولو پای ومومي.

## ۳.۲ د صنایعو او سوداګری لپاره ارقام

د سوداګری سکتور، د ژوندانه چاپیریال، د تولیداتو شتون او تقاضا، د مصرف کوونکو پیاوړتیا او تقاضا، د کار د قوا د بعدونو ایجاد او د حکومت د کړنلارې په هکله ارقامو او معلوماتو ته اړتیا لري. اقتصادي ـ ټولنیزه او دیموګرافیکي سروې د روانو اقتصادي فعالیتونو او د وګړو د ظرفیتونو په هکله مهمي پوښتنې په بر کې نیسي.

## ۳.۳ د هستوګنځي کړنلاره او پروګرامونه

اقتصادي – ټولنیزه او دیموګرافیکي سروې د هستوګنځي د فعلي حالت، د کورونو د وضعیت، د ملکیت د لاس ته راوړلو لپاره تقاضا او وړتیا اړونده معلومات برابروی. دغه معلومات کولای شي د مسکن د اساسي پروګرامونو په طرحه کولو کې د کړنلارې طرحه کوونکو سره د لاربنود په توګه مرسته وکړي.

## ۳.۴ د زیان منونکي نفوس په اړه ارقام

اقتصادي- ټولنیزه او دیموګرافیکي سروې د ډول ډول زیان منونکي نفوس د کټګوریو په هکله معلومات راټولوي چې د ځانګړو ډلو په منځ کې معلول کسان، ښځې او ځوانان دي. د هغوی ټولنیزې- د یموګرافیکي او اقتصادي ځانګړنې د پالیسی او پروګرام له پلوه د ځانګړو طرزالعملونو مستلزم دي چې باید د هیواد د پرمختیائي بهیر او کوښښونو په ټولو سطحو کې شامل شي.

## ۳.۵ بشر دوستانه مرستې

اقتصادي- ټولنیزه او دیموګرافیکي سروې، نقشه ایستنه او د ټولو کورنیو او اقتصادي تاسیساتو څخه د ولسوالۍ او کلي په کچه فهرست اخیستنه او همدارنګه د ټولنیزو بنسټونو د مختلفو ډولونو موقعیت لکه روغتیائي آسانتیاوې، ښوونځي، جوماتونه، بازارونه او سړکونه په بر کې نیسي چې د پیښو پر وړاندې د تیارۍ د پلانونو لپاره د پیښې په صورت کې د پراخې ویجاړتیا د مخنیوي لپاره د اساسي اهمیت درلودونکي دي. د نفوس ګروپونه د عمر، جنس، د زده کړې درجې، سواد، د استخدام وضعیت او د نورو مهمو متحولینو په بیلوالي چې کولای شي د اړتیا په صورت کې د بشردوستانه مرستو د شکل ورکولو سره مرسته وکړي، تصنیف شویدي.

## ۳.۶ څیړنه

اقتصادي- ټولنیزه او د یموګرافیکي سروې د لا زیاتو شننو، د نورو سروې ګانو سره د پرتلې او زیاتو څیړنو لپاره با ارزښته ارقام برابروي. دغه ارقام به د حکومتي او غیرحکومتي موسسو لپاره ډیر زیات ګټور وي، د بیلګې په توګه د ښوونځي څخه د باندې نوي ځوانانو په هکله ارقام کیدلای شي موضوع ته د رسیدنې لپاره د نویو کړنلارو د رامنځ ته کیدو لامل وګرځي.

# ۴. متودولوژی

سروې د دوو یو له بل سره تړلې فعالیتونو څخه جوړه وه : د کورونو، اقتصادي تاسیساتو او نورو موسساتو نقشه ایستنه او بشپړ فهرست اخیستل چې( د کورنیو تر سروې دمخه تطبیق شول ) او بخپله د کورنیو سروې.

## ۴.۱ د کورنیو، اقتصادي تاسیساتو او نورو موسساتو بشپړ فهرست اخیستل

بشپړ فهرست اخیستلو ټول کورونه، اقتصادي تاسیسات او نور موسسات په ټولو کلیو او د کاپیسا ولایت په ښاري ساحو کې تر پوښښ لاندې راوستل. په دغو فعالیتونو کې د نقشې د سکیچ برابرول چې د برابرولو په جریان کې د هر واحد فزیکي موقعیت ور باندې په نښه شو، شامل و او د مهمو عامه خدمتونو، اقتصادي تاسیساتو او نورو موسسو موقعیت د موقعیت د تعیین د نړیوال سیستم ( جي. پي. اس ) د وسیلې څخه په ګټې اخیستنې سره تثبیت شو. د اړونده بنسټونو لکه کلیو ته د تګ راتګ او حمل او نقل شتون، د اوبو د سرچینو، د برښنا د بالقوه نوی موقعیتونو او داسې نورو د شتون په اړه معلومات راټول شول.

سروې کوونکو وروسته بیا د نقشې ایستنې څخه د لاس ته راغلي معلوماتو څنې د سروې په تطبيق کې د لارښود په توګه د ورته ټاکل شویو ساحو د بشپړ پوښښ د یقیني کولو لپاره استفاده وکړه. په ټولیزه توګه، ۵ ولسوالۍ او ۲۷۴ د شمیرنې ساحې سروې شوې.

## ۴.۲ د سروی اجرا

د احصائیې د مرکزي ادارې د مخکنیو سروې ګانو پرخلاف چې د ولایت په کچه د معلوماتو د وړاندې کولو په موخه طرحه شوې وې، اقتصادي- ټولنیزې او د یموګرافیکي سروې د ولسوالۍ په کچه او ترهغې په ټیټه کچه لکه د ښاري ساحو فرعي ویش، عمده کلي او د کوچنیو کلیو پر ښاخونو تمرکز درلود. دا کار به د سیمه ایزې پلان جوړونې او د خدمتونو له وړاندې کولو څخه د څارنې لپاره د ارزښت وړ ثابت شي.

د سروې په سر کې په ټولو کلیو کې د ټولو کورنیو لست واخیستل شو. نیمائی د دغو لست شویو کورنیو (د مثال په ډول یوه کورنۍ تر منځ) د سروې لپاره د نمونو په توګه وټاکل شوې او په جزئیاتو څنې پوښتنې وشوې.

# ۵. پوښښ

د تګاب او اله سای ولسوالۍ په نومړو ولسوالیو کې د شته امنیتي ستونزو له کبله د فهرست اخیستنې او شمیرنې پر مهال تر پوښښ لاندې رانغلې.

# ۶. نظارت او څارنه

د لست اخیستلو او نقشې ایستنې فعالیتونه د احصائیې د مرکزي ادارې د ۷۹ تنو کارتوګرافرانو او د کارتوګرافرانو د مرستیالانو په واسطه چې د سیمې څخه استخدام شوي وو او د ۱۰ تنو د ولسوالیو د آمرینو او مرستیالانو لخوا صورت وموند. د سروې د شمیرلو عملیه د ۵۶۴ سروې کوونکو او ۶۴ کنترول کوونکو، ۶۴ تنو د تیم تصحیح کوونکو، ۵۸ د ولسوالي تصحیح کوونکو او ۴۶ تنو د ولسوالۍ کود ګذارانو په واسطه د ولسوالیو د آمرینو او د هغوی د مرستیالانو او د احصائیې د مرکزي ادارې د څارونکو تر څارنې لاندې تر سره شوه.

څارنې د احصائیې د مرکزي ادارې او د ملګرو ملتونو د وګړو صندوق د تخنیکي کارکوونکو په واسطه چې د ولسوالیو او ناحیو د آمرینو او مرستیالانو، سروې کوونکو او کنترول کوونکو د زده کړې له دوه اونیز کورس څخه ئې لیدنه وکړه، صورت ومومند. دوی د مفاهیمو او طرزالعملونو په اړه چې د سروې په اجرا کې ور څخه پیروی وشي روښنائي واچوله او د لوجستیکي، اداري، مالي او بشري سرچینو د مسائلو اړوند پوښتنو ته ئې چې ورته اړتیا وه، ځوابونه وویل.

د احصائیې د مرکزي ادارې او د ملګرو ملتونو د وګړو صندوق تخنیکي کارکوونکو همدا راز د پوښتنلیکونو په ګډون، په محل کې د پوښتنلیک چک، د بیاځلې مرکې ترسره کول او په ټولو ۵ ولسوالیو کې د کورنۍ سره د مرکې په جریان کې د مشاهداتو د ثبتولو مسوولیت په غاړه درلود. رامنځ ته شوې اشتباه ګانې د شمیر په لومړنیو پړاوونو کې سمې کړای شوې. د احصائیې د مرکزي اداري څارونکو د تابلیت له کمپیوترونو څخه په استفادې سره د څارنې او نظارت پر مهال موندنې ثبت کړې.

شاوخوا ۹ تنو د احصائیې د مرکزي اداري څارونکو او ۱۳ تنو کارکوونکو چې د احصائیې د مرکزي اداري لخوا استخدام شول د سروې پوښښ کنترول، د ساحې ئې لیدنه وکړه او د سروې کوونکو او کنترول کوونکو کار ئې وڅاره. د څارنې له یوې دریم ګړي کمپنۍ سره تړون وشو تر څو د سروې پوښښ وڅاري. د څارونکي ډلې موندنې د اړینو کړنو لپاره سمدستي د احصائیې د مرکزي اداري څارونکو ته خبر ورکول کیده.

# ۷. د ارقامو پراسس

د ارقامو تصحیح، کودګذاري او د ارقامو ادخال په کاپیسا ولایت کې صورت وموند. د ارقامو د پراسس یو مرکز په محمود راقي کې جوړ کړای شو او ۱۰۴ تنه پراسس کوونکي د یوه دقیق غورچان او هر اړخیزه زده کړې وروسته استخدام شول. کمپیوټرونه، جنراتورونه، تجهیزات، بخارۍ او د انټرنیټ اړیکه او نور اړین توکي برابرشول.

ډیرې د ارقامو پاکولو چارې د احصائیې د مرکزی اداری د ارقامو د پراسس په مرکز کابل کې د ۵۷ تنو تصدیق کوونکو لخوا او د احصائیې د مرکزی اداری د یوه تن څارونکي په واسطه څو د ارقامو د پراسس د پړاو له بهیر څخه څارنه وکړي، تر سره شوې.

# ۸. سروې پایلې

## ۸.۱ د نفوسو ځانګړتیاوې

### ۸.۱.۱ د وګړو ویش د ولسوالۍ په بیلوالي

د نجراب ولسوالي د ولایت د پنځو ولسوالیو په منځ کې چې سروې شوې د ټولو وګړو د ۳۴،۶ سلنې په درلودلو سره په کاپیسا کې د وګړو ډیر لوی شمیر درلودونکې دي. محمود راقي د ولایت مرکز په ۲۴،۳ سلنه کې په دویمه درجه کې او وروسته حصه اول کوهستان د ۱۸،۰ سلنې او حصه دوم کوهستان د ۱۶،۵ سلنې په درلودلو سره راځي. کوه بند د ولایت د سروې شویو ولسوالیو یوازې د ۶،۷ سلنې نفوس په لرلو سره ډیره کوچنۍ ولسوالي وه.

د وګړو د ګڼوالي (تراکم) له پلوه (۲شکل) چې عبارت د نفوسو له نسبت څخه د ځمکې پر مساحت باندې دی[۳]، حصه دوم کوهستان د وګړو زیات شمیر چې عین اندازه ځمکه نیسي ( ۱۲۴۶ تنه په في کیلومتر مربع کې ) درلودونکې دی، په داسې حال کې چې کوه بند ډیر کم شمیر (۱۴۰ تنه په في کیلومتر مربع کې ) درلود

### ۱ جدول: د نفوس د ویش سلنه د ولسوالۍ په توپیر: کاپیسا، وړی ۱۳۹۳

| ولایت / ولسوالي | سلنه |
|---|---|
| کاپیسا | ۱۰۰،۰ |
| محمود راقي | ۲۴،۳ |
| حصه دوم کوهستان | ۱۶،۵ |
| کوه بند | ۶،۷ |
| حصه اول کوهستان | ۱۸،۰ |
| نجراب | ۳۴،۶ |
| نوټ: د تګاب او اله سای ولسوالۍ په کې ندي شاملې | |

۳. د ځمکې د ساحې ویش د افغانستان د جیودیزي او کارتوګرافي اداري د معلوماتو پر اساس دی.

## ۲ شکل. دوګړوویش دولسوالۍ په توپیر کاپیسا سنبله ۱۳۹۳




## ۸.۱.۲ د جنس ترکیب

په پنځو سروې شویو ولسوالیو کې په ۵۰٫۵ سلنه کې د نارینه ؤ یو څه زیات شمیر نظر ښځو ته ( ۴۹٫۵ سلنه) شتون درلود. د جنس نسبت ۱۰۲ نارینه د هرو۱۰۰ښځو په وړاندې ثبت شوي چې د ټول هیواد لپاره د جنس له نسبت ( ۱۰۶ نارینه د هرو ۱۰۰ښځینه پر وړاندی)[۴] څخه ټیټ دی.

جمعیتونه د ۱۰۰ څخه د جنس د نسبت د پام وړ انحراف سره د مثال په ډول له ۸۵ څخه ټیټ او تر۱۱۰ څخه لوړ، باید چې د جنس له پلوه د انتخابی مهاجرتونو له لارې، د ښځینه ماشومانو وژل، د جنس له پلوه د انتخابی جنین سقط، د جنس له پلوه انتخابی کمه شمیرنه، اقتصادي فعالیتونه، د یوې ساحې ځانګړي خصوصیات مثلآ په خاص جنس پورې اړوند د موسساتو او لویو نظامي قطعاتو حضور او یا د جګړې ایزو تلفاتو څخه اوښتي مړینې توضیح شي.

د ولسوالیو په منځ کې، حصه دوم کوهستان د ۱۰۸ نارینه و سره د هرو۱۰۰ ښځو په مقابل کې د جنس ډیر لوړ نسبت درلودونکي ده چې ور پسې د ۱۰۶ نارینه د ۱۰۰ ښځو په وړاندې د جنس د نسبت په درلودلو سره حصه اول کوهستان قرار لري. د جنس نسبت په نورو دریو ولسوالیو کې د ۹۵ څخه په کوه بند کې تر ۱۰۰ پورې په نجراب کې قرار لري.

د جنس نسبت نظر د عمر ګروپ ته توپیر کوي. معمولآ په پرمخ تللو هیوادونو کې د نفوسو د جنس نسبت په ځوانو عمرونو کې لوړ دی او د عمر په زیاتوالي سره رالویږي. خو د میندو د مړینې له لوړ میزان او د ښځو د ټیټ موقف سره په هیوادونو کې، سره د دې چې د جنس نسبت د امیندوارۍ ترعمر پورې راټیټیږي، وروسته بیا د عمر سره زیاتوالۍ مومي. په عمومي ډول" ځوان "نفوس یا د لوړ زیږون سره نفوس تمایل لري نسبت "زاړه" نفوس ته یا د ټیټې زیږیدنې نفوس ته د جنس لوړ نسبت ولري.

۴. د ملي کچې ټول ارقام کوم چې په دې راپور کې ترې استفاده شوي ده د ګواښونو او زیان منني ملي سروې( په افغانستان کې د ژوندانه د وضعیت سروې۱۳۹۰_۱۳۹۱) څخه اخیستل شوي دي.

## ۲ جدول: د نفوس د جنس نسبت د عمر د ګروپ او ولسوالۍ په توپير: کاپيسا، وړی ۱۳۹۳

| د عمر ګروپ | کاپيسا | محمود راقي | حصه دوم کوهستان | کوه بند | حصه اول کوهستان | نجراب |
|---|---|---|---|---|---|---|
| ټول | ۱۰۲ | ۱۰۱ | ۱۰۸ | ۹۵ | ۱۰۶ | ۱۰۰ |
| ۴–۰ | ۱۰۰ | ۱۰۰ | ۹۹ | ۹۳ | ۹۷ | ۱۰۴ |
| ۵–۹ | ۱۰۲ | ۹۹ | ۱۰۴ | ۱۰۰ | ۱۰۳ | ۱۰۳ |
| ۱۰–۱۴ | ۱۰۲ | ۱۰۱ | ۱۰۴ | ۱۰۶ | ۱۰۳ | ۱۰۱ |
| ۱۵ – ۱۹ | ۹۸ | ۹۶ | ۱۰۹ | ۹۳ | ۱۰۵ | ۹۱ |
| ۲۰ – ۲۴ | ۱۱۰ | ۱۰۸ | ۱۲۴ | ۸۲ | ۱۲۳ | ۱۰۴ |
| ۲۵ – ۲۹ | ۱۰۷ | ۹۶ | ۱۱۲ | ۱۰۲ | ۱۱۳ | ۱۱۰ |
| ۳۰ – ۳۴ | ۱۰۰ | ۹۹ | ۹۹ | ۹۵ | ۱۰۷ | ۹۹ |
| ۳۵ – ۳۹ | ۸۷ | ۸۶ | ۹۶ | ۷۶ | ۹۴ | ۸۳ |
| ۴۰ – ۴۴ | ۹۹ | ۹۶ | ۱۰۵ | ۸۰ | ۱۰۶ | ۹۸ |
| ۴۵ – ۴۹ | ۱۰۲ | ۱۰۱ | ۱۰۴ | ۸۵ | ۱۱۰ | ۱۰۲ |
| ۵۰ – ۵۴ | ۹۸ | ۹۴ | ۱۰۹ | ۱۱۶ | ۱۰۳ | ۹۰ |
| ۵۵ – ۵۹ | ۱۰۱ | ۱۲۳ | ۱۰۸ | ۷۵ | ۱۰۸ | ۸۷ |
| ۶۰ – ۶۴ | ۱۰۶ | ۱۲۶ | ۱۰۷ | ۱۴۰ | ۱۰۰ | ۹۴ |
| ۶۵ + | ۱۳۵ | ۱۴۱ | ۱۶۹ | ۱۲۰ | ۱۲۸ | ۱۲۷ |

په عمومي ډول، د زيږيدنې پر مهال د جنس نسبت د زيږيدلو ماشومانو لپاره تقريباً ۱۰۵ نارينه د ۱۰۰ ښځينه په مقابل کې د زيږيدنې پر مهال د جنس له نسبت د ۱۰۲ـ۱۰۷ په منځ کې عادي ګڼل کيږي. د ۱۰۷ څخه لوړ د جنس نسبت د ښځينه ماشومانو يو ډول کمه شميرنه ښيئ، په داسې حال کې چې د ۱۰۲ څخه ټيټ د جنس نسبتونه امکان لري د نارينه ماشومانو کمه شميرنه وښيئ. د جنس له پلوه د انتخابي جنين سقط همدا راز کيدلای شي د زيږيدنې پر مهال د جنس په نسبتونو باندې منتج شي چې د عادي محدودې څخه بهر دی.

په سروې کې د نارينه ماشومانو کمه شميرنه او له پامه غورځونه امکان لري د ۰ـ۴ کالنۍ د عمر په ګروپ کې د جنس ټيټ نسبت په څلورو ولسواليو کې توضيح کړي: کوه بند (۹۳ نارينه ماشومان د هرو۱۰۰ ښځينه ماشومانو په مقابل کې )، حصه اول کوهستان( ۹۷ )، حصه دوم کوهستان(۹۹) او محمود راقي (۱۰۰). په پايله کې پنځو سروې شويو ولسواليو کې د دې عمر ګروپ لپاره د جنس نسبت ۱۰۰هلکان د هرو ۱۰۰ نجونو په مقابل کې دی.

د جنس فوق العاده لوړ نسبتونه د ۶۵ کلونو او تر هغې پورته عمرونو کې په څلورو ولسواليو کې د ليدلو وړ دي: حصه دوم کوهستان (۱۶۹)، محمود راقي (۱۴۱)، حصه اول کوهستان (۱۲۸) او نجراب (۱۲۷).

### ۸.۱.۳ د عمر جوړښت

د کاپيسا پنځه ولسوالۍ يو ځوان نفوس لري لکه چې د هغې د نفوسو په هرم ( ۳ شکل) کې ښودل شوې دی. د ۰ـ۴ کلنۍ د کوچنې عمر ګروپ د دري غوره دليلونو ښکارندوې دی:

۱) د زيږيدنو کموالی د ۷،۱ ماشومانو څخه په ۱۳۵۸[۵] کال کې تر ۶،۳ ماشومانو پورې په ۱۳۷۶[۶] کال کې)،

۲) په ډيرو ځوانو عمرونو کې د ماشومانو حذف زياتره د نوي زيږيدلو په خير کوم چې په زياتره هيوادونو کې معمول دی او

۳) د عمر ناسمه راپور ورکونه چې ښائی دعمر په دې ګروپ کې د هلکانو د کمې راپور ورکونې ونډه او همدارنګه ځنې د زاړه عمر په ګروپ کې زياتوالي وي.

۵. د افغانستان د وګړو د سرشميرنې لومړنۍ پايلې ۱۳۵۸.
۶. د کوائفونو او زيان منني ملي سروې ۲۰۰۷/۲۰۰۸ ( د افغانستان پروفايل).

د عمر ارقام معمولاً د کورنۍ د ځواب ورکوونکي لخوا ورکړل شوي دي یا د مور او یا هم د پلار لخوا. زیاتره د عمر ناسمه راپور ورکونه هله رامنځ ته کیږي چې کله ځواب ورکوونکي د خپلې کورنۍ د غړیو په سم عمر او د زیږیدنې په نیټو باندې نه پوهیږي. د سروې کوونکو او یا ځواب ورکوونکو تمایل چې څه برخه عمرونه د نورو عمرونو په قیمت باندې راپور ورکړي د عمر انباشتګی، د عمر رجحان یا د اعدادو رجحان نومول کیږي. د کاپیسا د څلورو ولسوالیو لپاره د عمر د ارقامو د کیفیت په هکله زیات تشریحات او توضیحات په ۱ ضمیمه کې ورکړل شوي دي.

د سروې پرمهال د پنځو ولسوالیو نیمائی نفوس ځوان نفوس جوړاوه. د ۵ـ۹ کلنې عمر ګروپ د ۱۵,۲ سلنې په درلودلو سره د نفوسو زیاتره برخه تشکیلوی چې ورپسې په ۱۵,۱ سلنه کې د ۵ کلنې څخه ځوان نفوس او د ۱۴,۳ سلنې په درلودلو سره د ۱۰ـ۱۴ کلنۍ عمر ګروپ، راځي

## ۳ شکل: د کاپیسا د نفوس هرم: وری ۱۳۹۳




تر ۲۰ کلنې لاندې عمر له میدیان سره یو نفوس، ځوان نفوس تلقي کیږي. د کاپیسا پنځه ولسوالي د عمر د میدیان له پلوه یو ډیرځوان نفوس لري چې د ۱۵,۸ څخه ( محمود راقي) تر ۱۷,۸ پورې ( په حصه اول کوهستان او نجراب ) کې قرار لري. په ګډه، په پنځه ولسوالیو کې د عمر میدیان ۱۷,۱ ثبت شوې دی دا په دې معنی دی چې د پنځو ولسوالیو د ټول نفوس نیمائې په ۱۳۹۳ کال کې د ۱۷,۱ کلنۍ څخه ډیرځوان وه. دا د ملي اټکل د ۱۷ کلنۍ عمر له میدیان سره په ورته کچه کې قرار لري ( ۱ چوکاټ ).

د کاپیسا ولایت په پنځو ولسوالیو کې نارینه نفوس د ۱۷,۲ کلنۍ عمر میدیان درلوده، په داسې حال کې چې د هغې ښځینه نفوس د ۱۷,۰ کلنۍ عمر ټیټ میدیان درلود. نارینه نسبت ښځینه و ته په عمومي ډول په محمود راقي، حصه دوم کوهستان او حصه اول کوهستان کې زاړه وو، په داسې کال کې چې په کوه بند او نجراب کې د ښځینه و د عمرونو میدیان نسبت نارینه و ته لوړ وه.

۱ چوکاټ : د عمر میدیان

| | |
|---|---|
| کاپیسا*(۱۳۹۳) | ۱۷,۱ |
| پروان *(۱۳۹۳) | ۱۷,۱ |
| کابل* (۱۳۹۲) | ۱۷,۷ |
| غور* (۱۳۹۱) | ۱۶,۳ |
| دایکندی*(۱۳۹۱) | ۱۵,۲ |
| بامیان*(۱۳۹۰) | ۱۶,۶ |
| افغانستان | ۱۷,۰ |

سرچینه: * اقتصادي- ټولنیزه او دموګرافیکي سروې
**د ګواښونو او زیان منني ملي سروې ۱۳۹۰-۹۱ دموګرافیکی

## ۳ جدول: په کالونو د نفوس د عمر میدیان د ولسوالۍ په توپیر: کاپیسا، وړی ۱۳۹۳

| ولایت/ ولسوالي | دواړه جنسونه | نارینه | ښځینه |
|---|---|---|---|
| کاپیسا | ۱۷٫۱ | ۱۷٫۲ | ۱۷٫۰ |
| محمود راقي | ۱۵٫۸ | ۱۵٫۹ | ۱۵٫۷ |
| حصه دوم کوهستان | ۱۷٫۰ | ۱۷٫۴ | ۱۶٫۶ |
| کوه بند | ۱۵٫۹ | ۱۵٫۵ | ۱۶٫۳ |
| حصه اول کوهستان | ۱۷٫۸ | ۱۸٫۲ | ۱۷٫۴ |
| نجراب | ۱۷٫۸ | ۱۷٫۸ | ۱۷٫۹ |

د ۱۵ کلنۍ عمرلاندې نفوس نسبت همدا راز د دې ښکارندوی دی چې آیا نفوس ځوان دی یا زوړ. هغه جمعیتونه چې په سلو کې ۳۵ یا زیاتره نفوس ئې تر۱۵ کلنۍ عمر لاندې دی، ځوان نفوس تلقي کیږي. لکه څرنګه چې په ۴ جدول کې ښودل شویدی د ۱۵ کلنۍ عمر لاندې ماشومان د پنځو ولسوالیو د ټول نفوس ۴۴٫۶ سلنه تشکیلوي. د ۱۵ کلنۍ عمر لاندې ماشومانو نسبت د ۴۲٫۵ سلنې څخه تر ۴۸٫۰ سلنې پورې توپیر مومي، دکوم سره چې نجراب ډیر ټیټ او محمود راقی ډیر لوړ نسبت درلود.

## ۴ جدول: د نفوس د سلنې ویش د عمر د ګروپ، د زاړو- ماشومانو نسبت او ولسوالۍ په توپیر: کاپیسا، وړی ۱۳۹۳

| ولایت/ ولسوالي | ټول | ګروپ سن | | | د زاړو/ ماشومانو نسبت |
|---|---|---|---|---|---|
| | | ۰-۱۴ | ۱۵-۶۴ | ۶۵ او پورته عمر | |
| کاپیسا | ۱۰۰٫۰ | ۴۴٫۶ | ۵۲٫۳ | ۳٫۱ | ۶٫۹ |
| محمود راقي | ۱۰۰٫۰ | ۴۸٫۰ | ۴۹٫۴ | ۲٫۷ | ۵٫۶ |
| حصه دوم کوهستان | ۱۰۰٫۰ | ۴۴٫۸ | ۵۲٫۴ | ۲٫۸ | ۶٫۳ |
| کوه بند | ۱۰۰٫۰ | ۴۷٫۹ | ۴۹٫۷ | ۲٫۴ | ۴٫۹ |
| حصه اول کوهستان | ۱۰۰٫۰ | ۴۲٫۷ | ۵۴٫۴ | ۳٫۰ | ۶٫۹ |
| نجراب | ۱۰۰٫۰ | ۴۲٫۵ | ۵۳٫۸ | ۳٫۷ | ۸٫۷ |

جدول همدارنګه د ۱۵ تر۶۴ کلنۍ کسانو نسبتونه او د ۶۵ کلنۍ او ترهغې پورته اشخاصو نسبتونه د ولسوالۍ په توپیر ښودونکې دي. د ۱۵ تر۶۴ کلنۍ عمر ګروپ معمولآ د کار د عمر د ګروپ په حیث، په ځانګړي توګه په پرمخ تللو هیوادونو کې تلقي کیږي. د کاپیسا ولایت د پنځو ولسوالیو لپاره دکاري عمر ګروپ د دې ولایت د ټول نفوس ۵۲٫۳ سلنه محاسبه شوې دی. د ولسوالۍ په کچه دغه نسبت د ۴۹٫۴ سلنې څخه په محمود راقي کې تر ۵۴٫۴ سلنې پورې په حصه اول کوهستان کې قرار لري.

په هغه جمعیتونو کې چې زاړه کسان (۶۵ کلن او ترهغې پورته ) په سلو کې تر۱۰ کم د ټول نفوس تشکیلوي، همدارنګه ځوان نفوس ګڼل کیږي. دکاپیسا ولایت د پنځو ولسوالیو لپاره د زاړه نفوس نسبت په سلو کې ۳٫۱ وه چې نسبتونو ئې د ۲٫۴ څخه په ( کوه بند) کې تر ۳٫۷ سلنې په (نجراب) کې قرار درلود.

د زاړو پر ماشومانو نسبت یا د ۶۵ کلنو او ترهغې پورته اشخاصو نسبت د ۱۵ کلنۍ عمرلاندې د ماشومانو پر شمیر باندې په ۴ جدول کې ښودل شویدی. د پنځو ولسوالیو لپاره په ګډه دغه نسبت ۶٫۹ وه او پدې معنی دی چې په ۱۳۹۳ کال کې ۷ تنه د ۶۵ کلنۍ او ترهغې پورته زاړه کسان د هرو۱۰۰ د ۱۵ کلنۍ عمر لاندې ماشومانو په مقابل کې شتون درلوده. د ولسوالیو په توپیر دغه نسبت د ۴٫۹ سلنې څخه په ( کوه بند) کې تر ۸٫۷ په سلو کې په ( نجراب) کې قرار لري.

د باردوشي د عمر نسبت د اقتصادي او ټولنيزې پرمختيا لپاره د نفوسو په جوړښت کې د اغزمنو بدلونونو ښکارندوينه کوي. دغه نسبت معمولاً د دې په فرض کولو سره چې د ۱۵ تر۶۴ کلنۍ نفوس د کار د عمر له ګروپ استازيتوب کوي او نسبت دی د ماشومانو او زاړو کسانو شمير د کار کولو د عمر ګروپ پر شمير باندې. ځوان نفوس معمولآ د باردوشۍ له ۱۰۰ پورته د مجموعی باردوشي نسبت لري

## ۵ جدول: د باردوشي عمر نسبت د ولسوالۍ په توپیر: کاپیسا، وړی ۱۳۹۳

| ولايت/ ولسوالي | د باردوشی ټولیز نسبت | د ماشومانو د باردوشی نسبت | د زاړو د باردوشی نسبت |
|---|---|---|---|
| کاپیسا | ۹۱,۱ | ۸۵,۲ | ۵,۹ |
| محمود راقي | ۱۰۲,۶ | ۹۷,۲ | ۵,۴ |
| حصه اول کوهستان | ۹۰,۸ | ۸۵,۴ | ۵,۴ |
| کوه بند | ۱۰۱,۱ | ۹۶,۳ | ۴,۷ |
| حصه دوم کوهستان | ۸۴,۰ | ۷۸,۵ | ۵,۴ |
| نجراب | ۸۵,۸ | ۷۸,۹ | ۶,۹ |

۵ جدول د پنځو ولسواليو لپاره د باردوشۍ د عمر نسبتونه ښئي. د باردوشۍ ټولیز نسبت ۹۱,۱ وه چې د ماشومانو د بار دوشي نسبت ۸۵,۲ او د زاړو د باردوشي نسبت ۵,۹ ته رالويږي. دا په دې معنی دی چې په هرو ۱۰۰ د کار عمر کسانو ( ۱۵ ـ ۶۴ کلنۍ) په مقابل کې ۹۱ باردوش کسانو شتون درلوده چې ۸۵ باردوش ماشومان او ۶ باردوش زاړه تشکیلوي. د کاپیسا په ولسواليو کې د باردوشي ټولیز نسبت اساساً د ماشومانو د باردوشۍ ښودونکې دی نظر د زاړو باردوشۍ ته چې د ملي اټکل ۱۰۴ څخه ټيټ دی ( ۲ چوکاټ ).

**۲ چوکاټ : د باردوشۍ ټولیز نسبت**

| | |
|---|---|
| کاپیسا*(۱۳۹۳) | ۹۱,۱ |
| پروان*(۱۳۹۳) | ۹۰,۸ |
| کابل*(۱۳۹۲) | ۸۳,۵ |
| غور *(۱۳۹۱) | ۹۶,۰ |
| دایکندی*(۱۳۹۱) | ۱۰۸,۹ |
| بامیان*(۱۳۹۰) | ۹۶,۳ |
| افغانستان | ۱۰۴/۰ |

سرچینه: * اقتصادي- ټولنيزه او دموګرافيکي سروې **د ګواښونو او زیان منني ملي سروې ۱۳۹۰-۹۱

د پنځو ولسواليو ترمنځ، محمود راقي په سلو کې د ۱۰۲,۶ لوړ د باردوشۍ ټولیز نسبت او د ماشومانو د ۹۷,۲ د باردوشۍ نسبت درلود، په داسې حال کې چې نجراب د ۶,۹ په کچه کې د زاړه عمر د باردوشي ډیر لوړ نسبت درلود. حصه اول کوهستان په ۷۸,۵ کې د ماشومانو د باردوشي ډیر ټيټ نسبت او همدا راز د ۸۴,۰ په کچه کې ډیر ټيټ د باردوشي ټولیز نسبت درلود.

### ۸.۱.۴ د مدني حالت ترکیب

د مهاجرت او ځو وادونو په نشتوالي کې په نفوس کې د متاهلو سړيو مجموع د متاهلو ښځو له مجموع سره یوشان وی. که څه هم دغه نظر د عمر ګروپ ته توپير کوي، ځکه چې ښځې په دوديزه توګه د خپل ځان څخه د مشرانو سړيو سره واده کوي. دغه دود چې ښځې د خپل ځان څخه د مشرانو سړيو سره وادونه کوي په ځوانو عمرونو کې د نارينه او ښځينه په ویش کې په توپير منجر کیږي. داسې معلوميږي لکه څرنګه چې په ۴ او ۵ شکلونو کې ښودل شوي دی د کاپیسا په ۵ ولسواليو کې په دې دود باندې عمل کیږي. د ۲۰ تر۲۴ کلنو سړيو ترمنځ هغوی چې د سروې پرمهال متاهل وو ۲۳,۸ سلنه تشکیلوي، په داسې حال کې چې د ښځو په منځ کې د عمر په دې ګروپ کې اړونده سلنه ۵۵,۴ وه. د ۲۵ تر۲۹ د عمر په ګروپ کې ۹ میرمنې د هرو۱۰ میرمنو او په پرتله ئې ۷ سړي د هرو۱۰ سړيو په مقابل کې متاهل وو. د هغو نارينه و او ښځو نسبت چې ۱۵ کلنۍ ته تر رسيدو دمخه ئې وادونه کړی وو په ۰,۰۲ سلنه کې یو شان وه.

۴ او ۵ شکلونه همدارنګه د دې ښودونکې دی چې د ۶۰ کلنۍ او ترهغې پورته د عمر په ګروپ کې ۴۹,۳ سلنه میرمنې کونډې او نیږدې عین نسبت (۵۰,۱ سلنه) متاهلې وې؛ په داسې حال کې چې د دې عمر د ګروپ د نارينه ؤ لپاره ارقام په ترتيب سره ۱۲,۰ سلنه او ۸۷,۱ سلنه دي. دغه چاره امکان لري د زاړو سړيو د بيا ځلي واده له کبله وي.

## ۴ شکل: د نارینه نفوس د ویش سلنه د مدني حالت او د عمر د ګروپ په توپیر: کاپیسا، وری ۱۳۹۳




## ۶ شکل: د ۲۰ـ۲۴ او ۵۰ـ۵۹ کلنۍ عمر د نارینه و او ښځینه و د ویش سلنه د مدني حالت په توپیر: کاپیسا، وری ۱۳۹۳




۶ جدول د ټولو ولسوالیو لپاره د ۲۰ـ۲۴ کلنۍ عمر د نارینه او ښځینه نفوس اړوند د مدني حالت د ویش ښودونکی دی. په محمود راقي کې د ۲۰ـ۲۴ کلنۍ د عمر نارینه و ۳۴٫۰ سلنه وادونه کړي وو، په داسې حال کې چې د همدې ګروپ د ښځینه و په منځ کې سلنه ۶۴٫۶ وه. کوه بند د ۲۰ـ۲۴ کلنۍ عمر ښځو کومو چې وادونه ئې کړي وو ډېر لوړ نسبت درلود (۶۵٫۸ سلنه)، په داسې حال کې چې نجراب د ۴۹٫۲ سلنې سره ډېر ټیټ نسبت درلود.

## ۶ جدول: د ۲۰_۲۴ او ۵۰_۵۹ کلنۍ عمر د نارینه و او ښځینه و د ویش سلنه د مدني حالت په توپیر: کاپیسا، وری ۱۳۹۳




۶ جدول د ټولو ولسوالیو لپاره د ۲۰_۲۴ کلنۍ د عمر د نارینه او ښځینه نفوس اړوند د مدني حالت د ویش ښودونکی دی. په محمود راقي کې د ۲۰_۲۴ کلنۍ د عمر نارینه و ۳۴,۰ سلنه وادونه کړي وو، په داسې حال کې چې د همدې ګروپ د ښځینه و په منځ کې سلنه ۶۴,۶ وه. کوه بند د۲۰_۲۴ کلنۍ عمر ښځو کومو چې وادونه ئې کړي وو ډیر لوړ نسبت درلود (۶۵,۸ سلنه)، په داسې حال کې چې نجراب د ۴۹,۲ سلنې سره ډیر ټیټ نسبت درلود.

## جدول ۶. توزیع فیصدی ذکور و اناث ۲۰ الی ۲۴ و ۵۱ الی ۵۹ ساله به تفکیک حالت مدنی: کاپیسا،سنبله ۱۳۹۳

| ولسوالي/ د عمر ګروپ | نارینه | | | | ښځینه | | | |
|---|---|---|---|---|---|---|---|---|
| | واده ئې ندي کړي | متاهل | کونډ | مطلقه/ جلا شوي | واده ئې ندي کړي | متاهل | کونډ | مطلقه/ جلا شوي |
| محمود راقي | | | | | | | | |
| ۲۴-۲۰ | ۶۵,۸ | ۳۴,۰ | ۰,۱ | ۰,۱ | ۳۴,۸ | ۶۴,۶ | ۰,۵ | ۰,۱ |
| ۵۹-۵۰ | ۰,۶ | ۹۶,۸ | ۳, ۲ | ۰,۳ | ۰,۵ | ۷۶,۷ | ۲۲,۷ | ۰,۱ |
| حصه دوم کوهستان | | | | | | | | |
| ۲۴-۲۰ | ۷۷,۶ | ۲۲,۳ | ۰,۱ | ۰,۰ | ۴۱,۳ | ۵۸,۵ | ۰,۲ | ۰,۱ |
| ۵۹-۵۰ | ۰,۷ | ۹۷,۵ | ۱,۶ | ۰,۲ | ۰,۶ | ۷۶,۸ | ۲۲,۴ | ۰,۲ |
| کوه بند | | | | | | | | |
| ۲۴-۲۰ | ۶۲,۴ | ۳۷,۶ | ۰,۰ | ۰,۰ | ۳۳,۴ | ۶۵,۸ | ۰,۲ | ۰,۵ |
| ۵۹-۵۰ | ۰,۰ | ۹۷,۵ | ۱,۷ | ۰,۸ | ۰,۸ | ۷۵,۷ | ۲۲,۷ | ۰,۸ |
| حصه اول کوهستان | | | | | | | | |
| ۲۴-۲۰ | ۸۴,۰ | ۱۵,۹ | ۰,۱ | ۰,۰ | ۴۹,۳ | ۵۰,۱ | ۰,۵ | ۰,۱ |
| ۵۹-۵۰ | ۱,۳ | ۹۵,۵ | ۲,۸ | ۰,۳ | ۰,۹ | ۷۸,۵ | ۲۰,۴ | ۰,۲ |
| نجراب | | | | | | | | |
| ۲۴-۲۰ | ۷۹,۰ | ۲۰,۸ | ۰,۲ | ۰,۰ | ۵۰,۴ | ۴۹,۲ | ۰,۳ | ۰,۰ |
| ۵۹-۵۰ | ۰,۸ | ۹۵,۷ | ۳,۱ | ۰,۴ | ۰,۵ | ۷۶,۶ | ۲۲,۰ | ۰,۹ |

۷ جدول د کاپيسا د پنځو ولسواليو لپاره د لومړني واده پرمهال د عمر ميديان ښئي. دغه په غيرمستقيم ډول د اقتصادي۔ ټولنيزي او ديموګرافيکي سروې له ارقامو څخه په استفادې سره د نارينه و او ښځينه و د مدني حالت په هکله د ۵ کلنۍ د عمر ګروپ په توپير اټکل شويدي. دغه روش د عمر د ګروپ د تعيين له لارې چې په کې د هغه نفوس نسبت چې کله ئې وادونه کړي دي په ډيره لوړه کچه کې قرار لري د هغه نفوس پر بنسټ باندې چې واده ئې کړی دی د سرحد له تعين سره سروکار لري. د متاهلو کسانو اعظمي نسبت معمولآ د ۴۵_ ۵۴ کلنۍ په عمر کې ډير لوړ دی، څرنګه چې ډيرې خلک چې واده کوي تر دې دمخه چې دې حد ته رسيږي وادونه کوي. د متاهلو اعظمي نسبت نيمائي چې وادونه ئې کړې له ۱۰۰ څخه تفريق کيږي ترڅو د هغو نسبت چې واده ئې ندې کړې لاس ته راشي. دا د عمر د ميديان په سنجش کې د لومړني واده پر مهال د خطی انترپوليشن په واسطه د استفادې وړ ګرځي. د لومړني ازدواج پر مهال د عمر ميديان د عمر څني استازيتوب کوي چې له هغې ښکته نيمائی نفوس د لومړني ځل لپاره واده کړې دی.

ارقام دا ښيي چې ښځو نسبت خپلو نارينه وو سيالانو ته ( ۲۵,۳ کلنۍ) د ځوانۍ په عمرونو( ۲۱,۸ کلنۍ) کې وادونه کړي دي. نجراب دلومړني ازدواج پر مهال د دواړو جنسونو نارينه واو ښځينه و لپاره په ترتيب سره د ۲۵,۸ کلنۍ او ۲۲,۵ کلنۍ د عمر ډير لوړ ميديان درلود.

## ۷ جدول: د عمر ميديان د لومړني واده پر مهال د جنس او لسوالۍ په توپير: کاپيسا، وږی ۱۳۹۳

| ولايت/ ولسوالي | د لومړني واده پر مهال د عمر ميديان | |
|---|---|---|
| | نارينه | ښځينه |
| کاپيسا | ۲۵,۳ | ۲۱,۸ |
| محمود راقي | ۲۴,۲ | ۲۱,۰ |
| حصه دوم کوهستان | ۲۵,۵ | ۲۱,۵ |
| کوه بند | ۲۳,۸ | ۲۱,۰ |
| حصه اول کوهستان | ۲۵,۷ | ۲۲,۴ |
| نجراب | ۲۵,۸ | ۲۲,۵ |

## ۸.۲ سواد

ملګري ملتونه سواد د لوستلو، ليکلو او د ورځني ژوند په هکله په يوې ساده جملې باندې د پوهيدلو وړتيا تعريفوي. ملګري ملتونه سپارښتنه کوي چې د سواد په هکله معلومات بايد چې د سرشميرنو په ترڅ کې د ۱۰ کلنو او ترهغې پورته کسانو لپاره راټول شي څکه چې د لوستلو او ليکلو وړتيا ښوونځي ته د تللو د څو کلونو مستلزم دی يا د هغې د ودې لپاره وخت ته اړتيا ده. د يادونې وړ ده چې په سروې ګانو کې د سواد اړوند پوښتنې ته ورکړل شوي ځوابونه معمولآ په دې هکله کې سواد منل کيږي.

| ۳ چوکاټ : د ۱۰ کلنو او تر هغې پورته عمر د سواد ميزان | |
|---|---|
| کاپيسا*(۱۳۹۳) | ۵۲,۲ |
| پروان* (۱۳۹۳) | ۴۴,۹ |
| کابل*(۱۳۹۲) | ۵۹,۶ |
| غور* (۱۳۹۱) | ۲۶,۰ |
| دايکندی*(۱۳۹۱) | ۴۳,۶ |
| باميان*(۱۳۹۰) | ۳۸,۱ |

سرچينه: اقتصادي- ټولنيزه او دموګرافيکي سروې

د کاپيسا د ۱۳۹۳ کال په اقتصادي۔ ټولنيزه او ديموګرافيکي سروې کې په دې هکله چې د نمونه کورنۍ غړی يوه ساده جمله د ژبو په هره يوه باندې ليکلې، لوستلې او پوهيدلې شي د کورنۍ د ۵ کلنو او ترهغې پورته غړيو لپاره پوښتل شوي دی. د سواد کچه د ۱۰ کلن او ترهغې پورته نفوس لپاره، ۱۵ کلن او ترهغې پورته او د ۱۵_ ۲۴ کلنۍ د عمر ګروپ لپاره په ۸ جدول کې ښودل شويدی. په دې جدول کې د ۵ تر ۹ کلنۍ د عمر ګروپ ارقام مستثنی پريښودل شوي.

د کاپيسا په ټولو پنځو ولسواليو کې د ۱۰ کلن او ترهغې پورته نفوس لپاره د ۵۲,۲ سلنه د سواد کچه د کابل پرته د نورو ټولو ولايتونو په نسبت په کومو کې چې اقتصادي، ټولنيزه او ديموګرافيکي سروې په کې تر سره شوي ده، ډيره لوړه وه (۳ چوکاټ). د نارينه و لپاره د ليک لوست کچه ۷۰,۰ سلنه وه چې دا کچه نسبت ښځينه و ته له دوه برابره څخه لوړه ده. د ولسوالۍ په کچه، د نارينه و لپاره د سواد ميزان د ۵۵,۶ سلنې څخه په (کوه بند) کې تر ۷۶,۴ سلنې پورې په ( حصه اول کوهستان) کې وه. همدارنګه د ښځو د سواد کچه ۱۸,۸ سلنه ( په کوه بند ) کې ډيره ټيټه او ۴۷,۶ سلنه په ( حصه اول کوهستان) کې ډيره لوړه وه.

د ښځو او سړیو د سواد د میزانونو ترمنځ د پام وړ تشې شتون درلود ( ۸ جدول ). په عمومي ډول په پنځو ولسوالیو کې ۴۸ میرمنې د هرو ۱۰۰ نارینه و په وړاندې با سواده وئ. کوه بند چې د ښځینه و د سواد میزان ټیټه کچه ئې درلوده، همدارنګه ئې د ۱۰ کلنو او تر هغې پورته عمر د ښځینه و پر نارینه و د ۳۴ باسواده ښځې د ۱۰۰ باسواده نارینه پر وړاندې ډیر ټیټ نسبت درلود. حصه اول کوهستان چې د ښځینه و د سواد لوړ میزان ئې درلود، همدارنګه ئې د ښځینه و پر نارینه و د ۶۲ باسواده ښځې د ۱۰۰ باسواده نارینه پر وړاندې ډیر لوړ نسبت درلود.

د سواد میزانونه کوم چې په ۸ جدول کې د ۱۰ کلن او تر هغې پورته نفوس لپاره ښودل شوي دي تر هغو لوړ دي چې د ۱۵ کلن او تر هغې پورته نفوس لپاره ښودل شوي دي. دا د سواد په اړه په ځانګړي ډول د ۱۰ــ۱۴ کلنۍ د عمر په ګروپ کې د ښه والي ښکارندوې دی. نوموړي ارقام همدارنګه د ښځینه او نارینه و د سواد د میزان تر منځ د تشې د نازکتیا ښودونکي دي: د ښځو پر نارینه و د سواد یا لیک لوست میزان د ۱۵ کلنو او تر هغې پورته لپاره د ۳۹٫۵ په کچه کې نسبت ۱۰ کلنو او تر هغې پررته عمر لپاره ټیټ وه ( ۴۸٫۴ ).

**۴ چوکا د ۱۵ - ۲۴ کلنۍ عمر ګروپ د سواد میزان**

| | ذکور | اناث |
|---|---|---|
| کاپیسا*(۱۳۹۳) | ۸۶/۳ | ۴۸/۳ |
| پروان* (۱۳۹۳) | ۷۸/۸ | ۳۵/۷ |
| کابل*(۱۳۹۲) | ۸۳/۳ | ۶۸/۴ |
| غور *(۱۳۹۱) | .۴۲۰ | ۱۵/۸ |
| دایکندی*(۱۳۹۱) | ۶۷/۲ | ۴۶/۵ |
| بامیان*(۱۳۹۰) | ۶۱/۶ | ۳۴/۱ |
| افغانستان** | ۶۱/۹ | ۳۲/۱ |

منبع:
سرچینه: * اقتصادي- ټولنیزه او دموګرافیکي سروې
**د ګواښونو او زیان مننې ملي سروې ۱۳۹۰-۹۱

د ۱۵ کلن او تر هغې پورته نفوس لپاره د سواد میزان د دواړو جنسونو لپاره ۴۶٫۵ سلنه وه: ۶۶٫۳ سانه د نارینه و لپاره او ۲۶٫۲ سلنه د ښځینه و لپاره. د ۱۵ کلنو او تر هغې پورته عمر نفوس لپاره د سواد میزان نسبت د هیواد په کچه د سواد میزان د ۳۱٫۴ سلنې ته لوړ وه ( ۴۵٫۴ سلنه د نارینه و لپاره او ۱۷ سلنه د ښځینه و لپاره)

۸ جدول همدا راز د نارنیه او ښځینه لپاره د لیک لوست کچه د ۱۵ تر۲۴ کلنۍ د عمر په ګروپ کې ( ځوان نفوس ) او د ښځو پر نارینه و د سواد نسبت د عمر د دې ګروپ لپاره د ولسوالۍ په توپیر ښودونکې دی. دغه نسبت د زریزې د پرمختیائي موخو د ۳ هدف د شاخصونو څخه یو دی، یعنې د جنسیت د تساوي لوړوالی او د ښځو پیاوړتوب. د عمر په دې ګروپ کې د ځوانو ښځینه پر نارینه و د سواد میزان ۵۵٫۹ سلنه وه او شاوخوا اوه په لسو کې باسواده لیدل کیدلې. نیږدې نهه په لسو کې ځوان نارینه او نیمائي د ځوانو ښځو باسواده وې.

## ۸ جدول: د نارینه و او ښځینه و لپاره د سواد میزانونه د عمر د عمده ګروپونو او ولسوالۍ په توپیر: کاپیسا، وړی ۱۳۹۳

د ماشوم د موجوديت څخه په لومړي سر کې د قانوني ډاډمنتيا تر څنګ، د زيږون ثبتول يوه مرکزي نقطه ده ترڅو دا يقيني کړي چې ماشوم حساب شوې دی او ځنې اساسي خدمتونو ته لکه روغتيا، ټولنيز خونديتوب او ښوونې او روزنې ته لاس رسی لري. د ماشوم په عمر باندې پوهيدل بله مرکزي نقطه ده چې هغوې د ماشومانو د کار، په عدلي سيستم کې د ځوانانو په څير د هغوې د ګواښ او نيونې، نظامي ځواکونو ته په زوره د شاملولو، په کوچنيوالي کې د واده کولو، قاچاق کولو او جنسي تيريو په مقابل کې ملاتړ کوي. د زيږون ثبت د زيږون د تصديق په توګه د بل چا د ملکرتيا پرته په جلا توګه خوندي مهاجرت ته لوړوالی وربخښي. په پايله کې، د زيږون ثبت د ددوی لپاره ,, د ملاتړ پاسپورت ،، دی ( يونيسف).

د کاپيسا په اقتصادي – ټولنيزه او ديموګرافيکي سروې کې معياري پوښتنه کارول شوې ده ( آيا ــــــــــــــــ د زيږون د ثبت تصديق لرئ ؟ )، کومه چې د ټولو تر ۵ کلنۍ عمر کمو ماشومانو لپاره پوښتل شوې ده.

۳۴ شکل د دې ښودونکې دی چې ۵۳,۸ سلنه د ۵ کلنۍ عمر لاندې ماشومانو زيږيدنه ثبت شوې ده ( پوښتنې ته د ،، هو ،، ځواب). داسې ښکاري چې د هلکانو زيږون نسبت نجونو ته زيات ثبت شوې ده ( په ترتيب سره ۵۴,۰ سلنه او ۵۳,۶ سلنه)

۳۴ شکل: د ۵ کلنۍ عمر لاندي نفوس نسبت هغوي چې زیږیدنه ئې ثبت شوي د جنس په توپیر: کاپیسا، وږی ۱۳۹۳




۳۵ شکل د ولسوالۍ په کچه، د زیږیدني د ثبت په اړه د زیږون د ثبت د کچې د ۴۲,۳ سلنې څخه په نجراب کې تر ۷۲,۳ سلنې پورې په کوه بند کې د زیات توپیر ښکارندوی دی.

۳۵ شکل: تر ۵ کلنې عمر لاندي نفوس لپاره د ثبت شویو زیږیدنو نسبت د ولسوالۍ په توپیر: کاپیسا، وږی ۱۳۹۳




ورته مشاهده د محمود راقي پرته د ولسوالیو په منځ کې لیدل شوي ده چیرته چې د نجونو د زیږون ثبت د سلنې په ۰,۷ نقطه کې لوړ وه.

۲۴ جدول: تر ۵ کلنې عمر لاندې نفوس لپاره د ثبت شویو زیږیدنو سلنه د جنس او ولسوالۍ په توپیر: کاپیسا، وړی ۱۳۹۳

| ولایت / ولسوالي | نارينه | ښځينه |
|---|---|---|
| کاپیسا | ۵۴,۰ | ۵۳,۶ |
| محمود راقي | ۵۵,۷ | ۵۶,۴ |
| حصه دوم کوهستان | ۵۰,۷ | ۵۰,۳ |
| کوه بند | ۷۴,۱ | ۷۰,۵ |
| حصه اول کوهستان | ۶۸,۶ | ۶۸,۶ |
| نجراب | ۴۳,۲ | ۴۱,۴ |

په عمومي ډول په هیواد او نورو ولایتونو کې د ثبت شویو زیږونونو نسبتونه په ۸ چوکاټ کې ښودل شوي دي. د کاپیسا په پنځو ولسوالیو کې د زیږون ثبت (۵۳,۸ سلنه) د پام په وړ ډول د ملي کچې د اټکل (۳۵ سلنه) په نسبت او په غور کې ( ۹,۰ سلنه) او دایکندي کې ( ۱۶,۳ سلنه ) میزان ته لوړ ده.

**۸ چوکاټ: ثبت شوي زيږونونه**

| | |
|---|---|
| کاپیسا* (۱۳۹۳) | ۵۳,۸ |
| پروان*(۱۳۹۳) | ۵۵,۹ |
| کابل*(۱۳۹۲) | ۶۶ |
| غور* (۱۳۹۱) | ۹,۰ |
| دايکندی*(۱۳۹۱) | ۱۶,۳ |
| افغانستان** | ۳۵ |

سرچينه:
* اقتصادی- ټولنيزه او دموګرافيکي سروې
** د کورنیو او زیان منني ملي سروې ۱۳۹۰-۹۱

## ۸.۹ مړینې

دغه برخه د کاپیسا ولایت په پنځو ولسوالیو کې د نوي زیږیدلو او تر ۵ کلنۍ لاندې ماشومانو د مړینې اټکل تشریح کوي. نوموړي شاخصونه د هیواد یا ساحې لپاره د ټولنیزې او اقتصادي پرمختیا او د ژوندانه د کیفیت لپاره ډیر مهم شاخصونه دي، لکه د نفوسو د روغتیا حالت. د ماشومانو د مړینې اندازه همدارنګه د نفوسو د پالیسیو او روغتیائي پروګرامونو په پرمختګ کې د لا زیاتې پوهیدنې لپاره مهمه ونډه لري.

د ماشومتوب مړینه په عمومي ډول او د نوي زیږیدلي ماشومانو مړینه په ځانګړي ډول زیاتره د هراړخیزه شاخصونو په توګه په اقتصادي او ټولنیزه پرمختیا کې یا د روغتیائي حالت د ځانګړو شاخصونو په توګه استعمالیږي. د ماشومتوب د مړینې میزانونه د زریزې د پرمختیائي موخو د ۴مې موخې په لور د هیواد د پرمختګ د ارزونې لپاره د استفادې وړ ګرځي کوم چې موخه ئې د ۲۰۰۳ تر ۲۰۱۵ کال پورې ۵۰ سلنې ته راکمول، او یو پر دریمې برخې ته د ۲۰۰۳ کال کچې تر ۲۰۲۰ کال پورې زیات راکمول دي ( د زریزې پرمختیائي موخې، د افغانستان اسلامي جمهوري دولت ۱۳۹۱).

د ماشومتوب د مړینې میزانونه د عمر په کټګوریو تاکېد کوي او معمولاً په لاندې ډول تعریف شوي دي:

- د نوي زیږیدلو مړینه: د مړینې احتمال د زیږیدنې او د زیږیدنې د لومړی کالیزې ترمنځ.
- د ۵ کلنۍ عمر لاندې مړینه: د مړینې احتمال د زیږیدنې او د زیږیدنې د پنځمې کالیزې ترمنځ.

په اقتصادي ـ ټولنیزه او دیموګرافیکي سروی کې پوښتنې د واده شویو میرمنو اړوند د ماشوم راوړنې په عمر کې د ماشومانو په هکله چې کله زیږیدلي، د ماشومانو د شمیر چې همدا اوس ژوندي دي او همدارنګه هغوی چې مړه شوي دي د جنس په توپیر، پوښتل شوي دي.

د غیر مستقیم روش څخه (د براس د روش د تروسل غوراوي کوم چې د کول- ډیمینې د ژوندانه د لړۍ له جدولونو کار اخلي) استفاده شوي ده تر څو د ژوندي زیږیدلو ماشومانو د مجموعې شمیر د معلوماتو له مخې او هغه ماشومان چې لا تر اوسه ژوندي دي (یا مړه شوي) او د میرمنو لخوا راپور ورکړل شوي د وروستي عمر ګروپ په تصنیف، د مړینې اټکل وکړي.

۲۵ جدول د نوي زیږیدلو او تر ۵ کلنۍ عمر لاندې ماشومانو د مړینې میزانونه د ۱۳۷۹ کال د ځنګاښ میاشتې د مورد نظر ارقامو سره ښیې. د دې داسې اټکل شوی ده چې د کاپیسا ولایت په پنځو ولسوالیو کې د نوي زیږیدلو مړینه ۵۵ مړینې په هره ۱۰۰۰ ژوندیو زیږیدنو کې دي او د ۵ کلنۍ عمر لاندې ماشومانو لپاره مړینه په هره ۱۰۰۰ ژوندیو زیږیدلو ماشومانو کې ۷۲ دئ. دغه ارقام د نارینه و لپاره په ترتیب سره ۶۳ او ۸۳ دي او په ترتیب سره ۴۶ او ۶۱ د ښځینه و لپاره دي.

## ۲۵ جدول: د نوي زیږیدلو مړینې او تر ۵ کلنۍ لاندې مړینې د میزانونو اټکل د جنس په توپیر: کاپیسا، وړی ۱۳۹۳

| جنس | د نوي زیږیدنې د مړینې میزان | د ۵ کلنۍ لاندې د مړینې میزان |
|---|---|---|
| دواړه جنسونه | ۵۵ | ۷۲ |
| نارینه | ۶۳ | ۸۳ |
| ښځینه | ۴۶ | ۶۱ |

یادونې:
د نوي زیږیدنې د مړینې میزان په ۱۰۰۰ ژوندیو زیږیدنو کې د نوي زیږیدنې په مړینه اطلاق کیږي
د ۵ کلنۍ لاندې د مړینې میزان په ۱۰۰۰ ژوندیو زیږیدنو کې د ۵ کلنۍ عمر لاندې ماشومانو په مړینه باندې اطلاق کیږي

د ۱۵ـ۱۹کلنۍ عمر لاندې میرمنو د ماشومانو لپاره ګواښ (د عمر په همدې ګروپ کې د زیږیدلو او مړه شویو ماشومانو د مړینې د غیر مستقیم اټکل پر بنسټ) غالباً لوړ دئ، بعضاً همدارنګه په نا ثابت ډول نسبت د عمر نورو ګروپونو ته. همدا خبره په کم توپیر سره د ۲۰ـ ۲۴ کلنۍ لاندې میندو د ماشومانو لپاره هم صدق کوي. د دې کار لپاره دوه فکتورونه په پام کې نیول شوي دي: د ماشومانو ویش نظر د زیږیدنې ترتیب او اقتصادي ـ ټولنیزو عواملو ته. لومړنې زیږیدنې نظر د وروستې زیږیدنو ترتیب ته د مړینې سره په لوړ ګواښ کې قرار لري او هغه ماشومان چې د ځوانو میرمنو په واسطه زیږول کیږي په ښکاره ډول د لومړنیو زیږیدنو له اوسط څخه په لوړ نسبت کې شاملیږي. هغه میرمنې چې په وختي عمرونو کې ماشومان نړۍ ته راوړي احتمال لري چې د اقتصادي ـ ټولنیز له ټیټ ګروپ څخه وي، نو له دې امله ئې ماشومان د مړینې د ګواښ له اوسط څخه په لوړه کچه کې قرار لري.[۱۰]

**۹ چوکاټ: د مړینې میزانونه**

| | تر ۵ کلنۍ لاندې د مړینې میزان | د نوي زیږیدلو د مړینې میزان |
|---|---|---|
| کاپیسا* (۱۳۹۳) | ۵۵ | ۷۲ |
| پروان*(۱۳۹۳) | ۵۹ | ۸۰ |
| کابل*(۱۳۹۲) | ۴۳ | ۵۴ |
| غور *(۱۳۹۱) | ۷۰ | ۹۷ |
| دایکندی*(۱۳۹۱) | ۷۶ | ۱۰۵ |
| بامیان*(۱۳۹۰) | ۸۶ | ۱۲۲ |

سرچینه:
اقتصادي- ټولنیزه او دموګرافیکي سروې

د کابل، بامیان، غور، دایکندي، پروان او کاپیسا ولایتونو د نوي زیږیدلو او د ۵ کلنۍ عمر لاندې ماشومانو د مړینې میزانونه په ۹م چوکات کې ښودل شوي دي.

د کاپیسا ولایت په پنځو ولسوالیو کې د نوي زیږیدلو او تر ۵ کلنۍ عمر لاندې ماشومانو د مړینې میزانونه نسبت د بامیان، غور، دایکندي او پروان میزانونو ته ټیټ دي،، خو نسبت کابل ته لوړ دي. دکاپیسا د زیږیدنې ټیټ میزانونه ښائې کابل ته د هغې د نیږدیوالي له کبله وي چیرته چې په زیاته پیمانه روغتیائی آسانتیاوې د لاس رسي وړ دي.

## ۸.۱۰ د والدینو د ژوندیتوب حالت

۳۶ شکل د ۵ کلنۍ عمر لاندې یتیمو ماشومانو د والدینو د ژوندیتوب حالت ښئې. ارقام دا ښئې چې دکاپیسا ولایت په پنځو ولسوالیو کې د ۱,۰۷ سلنه ماشومانو یو ئې له والدینو مړه شوي دی. د ځوانو ماشومانو نسبت چې یوازې میندې ئې ژوندې وې ۰,۸۱ سلنه وو، په داسې حال کې هغوې چې یوازې میندې ئې مړې شوي وې ۰,۲۲ سلنه جوړول. د ۵ کلنۍ عمر لاندې د هغو ماشومانو نسبت چې د والدینو دواړه ئې مړه شوي وو، په سلو کې ۰,۰۴ وو.

۱۰. K. Hill in Moultrie et al, eds (۲۰۱۳).

### ۳۶ شکل: د ۵ کلنۍ عمر لاندې د یتیمو ماشومانو سلنه: کاپیسا، وړی ۱۳۹۳




۳۷ شکل د ۵ کلنۍ عمر لاندې یتیمو ماشومانو د والدینو د ژوندیتوب حالت د ولسوالۍ په توپیر ښئ. په محمود راقي کې د ۱٫۱۱ په کچه کې دغه نسبت د دې عمر ماشومانو لپاره چې یوازې میندې ئې ژوندۍ وي، ډیر لوړ وه. له بلې خوا، دغه نسبت د دې عمر ماشومانو کې په کوه بند کې چیرته چې ۰٫۴ سلنه ماشومانو یوازې پلرونه ژوندي وو ډیر لوړ وه. د نجراب پرته نورو ټولو ولسوالیو د ۵ کلنۍ عمر لاندې ماشومانو د ۰٫۰۵ سلنې ورته نسبت درلود چې دواړه والدین ئې مړه شوي وو.

### ۳۷ شکل: د ۵ کلنۍ عمر لاندې د یتیمو ماشومانو سلنه د ولسوالۍ په توپیر: کاپیسا، وړی ۱۳۹۳




په کاپیسا کې د والدینو د ژوندیتوب حالت پرتله د پروان، کابل، غور او دایکندي سره په ۱۰م چوکاټ کې ښودل شوې دی. د کاپیسا ولایت د هغو ماشومانو نسبت کومو چې لږترلږه یو د خپلو والدینو ئې مړ شوي نسبت پروان او کابل ته لوړ، خو د غور او دایکندي په نسبت ټیټ وه.

**۱۰ چوکاټ: د والدینو د ژوندیتوب وضعیت**

| | یوازې مور ئې ژوندې وه | یوازې پلار ئې ژوندی وه | دواړه والدین ئې مړه وو |
|---|---|---|---|
| کاپیسا* (۱۳۹۳) | ۰٫۸۱ | ۰٫۲۲ | ۰٫۰۴ |
| پروان*(۱۳۹۳) | ۰٫۶۵ | ۰٫۲۱ | ۰٫۰۶ |
| کابل*(۱۳۹۲) | ۰٫۴۹ | ۰٫۲۱ | ۰٫۰۵ |
| غور *(۱۳۹۱) | ۰٫۷ | ۰٫۶ | ۰٫۲ |
| دایکندی*(۱۳۹۱) | ۱٫۵ | ۰٫۶ | ۰٫۴ |

سرچینه:
اقتصادي- ټولنیزه او دموګرافیکي سروې

## ۸.۱۱ د کورنۍ ځانګړتیاوې

### ۸.۱۱.۱ د کورنیو اندازه

د کاپیسا ولایت پنځو ولسوالیو د ۶,۸ تنو د کورنۍ له منځنۍ اندازه سره ۴۷ زره کورنۍ درلودې چې د کورنیو منځنۍ کچه ئې د ملي اوسط (۷,۴ تنه) څخه ټیټه وه. هغه کورنۍ چې د ۲ تر ۵ غړي ئې درلودل ۳۳,۹ سلنه حساب شوي دي، په داسې حال کې چې یوه کسیزه کورنیو یوازې ۱,۴ سلنه تشکیلوله. د ولسوالیو تر منځ حصه اول کوهستان د ( ۶,۴ تنو )، کوه بند د ( ۶,۴ تنو) او حصه دوم کوهستان د (۶,۵ تنو) په درلودلو سره نسبت د پنځو ولسوالیو منځنۍ کچې ته د کورنۍ د منځنۍ کچې په ټیټه کچه کې ثبت شوي دي. د کورنۍ منځنۍ کچه د محمود راقي او نجراب لپاره په ترتیب سره ۷,۱ او ۷,۲ تنه وه.

**۱۱ چوکاټ: د کورنۍ منځنۍ اندازه**

| | |
|---|---|
| کاپیسا* (۱۳۹۳) | ۶,۸ |
| کاپیسا*(۱۳۹۳) | ۶,۸ |
| کابل*(۱۳۹۲) | ۶,۹ |
| غور *(۱۳۹۱) | ۵,۶ |
| دایکندی*(۱۳۹۱) | ۹,۰ |
| بامیان*(۱۳۹۰) | ۷,۴ |
| افغانستان** | ۷,۴ |

سرچینه:
* اقتصادي – ټولنیزه او دموګرافیکي سروې
**د ګواښونو او زیان منني ملي سروې ۱۳۹۰-۹۱

**۲۶ جدول: د کورنیو د سلنې ویش د اندازې او د کورنۍ د منځنۍ اندازې او ولسوالۍ په توپیر: کاپیسا، وړی ۱۳۹۳**

| ولایت/ولسوالي | ۱ کسیزه | ۲ کسیزه | ۳ کسیزه | ۴ کسیزه | ۵ کسیزه | ۶ کسیزه | ۷ کسیزه | ۸ کسیزه | ۹ کسیزه | ۱۰ کسیزه او زیات | د کورنۍ منځنۍ اندازه |
|---|---|---|---|---|---|---|---|---|---|---|---|
| کاپیسا | ۱,۴ | ۵,۴ | ۷,۴ | ۱۰,۰ | ۱۱,۱ | ۱۲,۶ | ۱۳,۱ | ۱۲,۰ | ۹,۷ | ۱۷,۳ | ۶,۸ |
| محمود راقي | ۱,۲ | ۴,۵ | ۶,۹ | ۹,۰ | ۱۰,۴ | ۱۲,۸ | ۱۲,۹ | ۱۲,۲ | ۱۰,۳ | ۱۹,۹ | ۷,۱ |
| حصه دوم کوهستان | ۱,۵ | ۶,۰ | ۷,۴ | ۱۱,۰ | ۱۲,۵ | ۱۳,۱ | ۱۳,۳ | ۱۲,۵ | ۹,۳ | ۱۳,۵ | ۶,۵ |
| کوه بند | ۱,۶ | ۸,۱ | ۹,۸ | ۱۱,۲ | ۱۳,۱ | ۱۲,۶ | ۱۰,۳ | ۱۰,۷ | ۷,۴ | ۱۵,۲ | ۶,۴ |
| حصه اول کوهستان | ۱,۳ | ۶,۲ | ۹,۱ | ۱۲,۱ | ۱۱,۷ | ۱۳,۳ | ۱۴,۲ | ۱۱,۸ | ۸,۷ | ۱۱,۷ | ۶,۴ |
| نجراب | ۱,۵ | ۴,۸ | ۶,۳ | ۸,۸ | ۱۰,۱ | ۱۱,۷ | ۱۳,۰ | ۱۱,۹ | ۱۰,۷ | ۲۱,۲ | ۷,۲ |

### ۸.۱۱.۲ د اخلي پخلي لپاره د انرژي غوره سرچنه

لرګي د اخلي پخلي لپاره یوه معموله سرچینه وه کومه چې د کاپیسا په پنځو ولسوالیو کې په سلو کې ۸۱,۳ سلنه کورنیو هغه د خپل اخلي پخلي لپاره د سون د موادو په توګه استفاده کوله (۳۸ شکل). همدا راز ۴,۸ سلنه کورنیو د اوبلن غاز، ۱۰,۳ سلنه د غوشائ او پاتي نورو ۳,۶ سلنه د سون له نورو توکو لکه بوس، وابنه، د خاورو تیل، د ډبرو سکاره، سکاره، بربښنا او د کرنیزو توکو پاتي شونو څخه ګټه اخیستله.

لرګي په نجراب کې ( ۹۰,۶ سلنه)، محمود راقي کې (۸۴,۶ سلنه)، حصه دوم کوهستان کې (۸۲,۲ سلنه ) او په حصه دوم کوهستان کې(۷۲,۱ سلنه) د اخلي پخلي لپاره یوه معموله سرچینه ګڼل کیده. د بل پلوه تر نیمائي زیاتو کورنیو(۴۷,۷ سلنه) په کوه بند کې د پخلي لپاره له غوشایو څخه د سون د توکي په څیر استفاده کوله، په داسې حال کې چې ۱۳,۱ سلنه کورنیو په حصه اول کوهستان کې اوبلن غاز استعمالوه.

۳۸ شکل: د کورنیو د سلنې ویش د پخلي لپاره د انرژۍ د غوره سرچینې او ولسوالۍ په توپیر: کاپیسا، ورۍ ۱۳۹۳




## ۸.۱۱.۳ د ګرمولو لپاره د انرژي غوره سرچینه

لرګي د کاپیسا په پنځو ولسوالیو کې د ګرمولو لپاره د انرژۍ یوه مهمه او غوره سرچینه ګڼل کیده او د دې هدف لپاره په هرو ځلورو کورنیو کې د دریو لخوا استفاده کیدله ( ۳۹ شکل). د ټولو کورنیو له جملې څخه د ۱۰,۶ سلنه کورنیو لخوا د تودولو لپاره د ډبرو سکاره، د ۱۱,۵ سلنه کورنیو په واسطه غوشائي او د ۱,۷ سلنه کورنیو په واسطه غاز، د خاورو تیل او دیزل استفاده کیدله. پاتي نورو ۱,۳ سلنه کورنیو د ګرمولو لپاره د سون نوره توکي لکه برښنا، سکاره او داسې نور استعمالول. په هره ولسوالۍ کې د نیمائی څخه زیاتو کورنیو د ګرمولو لپاره د لرګي څخه د سون د توکي په څیر استفاده کوله چې نسبت ئې د ۶۱,۶ سلنې څخه په کوه بند کې تر ۸۵,۹ سلنې ته په نجراب کې رسیږي.

غوشائي د ګرمولو لپاره د سون د توکي په څیر په دریو کې د یوې کورنۍ په واسطه په کوه بند کې استفاده کیدله ( ۳۴,۶ سلنه)، په داسې حال کې چې د ډبرو سکاره په معمول ډول په حصه اول کوهستان کې په پنځو کې د دوو کورنیو لخوا استفاده کیدله ( ۱۹,۲ سلنه).

۳۹ شکل: د کورنیو د سلنې ویش د ګرمولو لپاره د انرژي د غوره سرچیني او ولسوالۍ په توپیر: کاپیسا، ورۍ ۱۳۹۳



## ۸.۱۱.۴ د روښنائۍ لپاره غوره سرچینه

لمریزه انرژی د کاپیسا ولایت په پنځو ولسوالیو کې د روښنائي لپاره د کورنیو په منځ کې مخکښه سرچینه وه او د ټولو کورنیو له نیمائي ( ۵۶,۲ سلنه) څخه د زیاتو کورنیو لخوا استفاده کیده چې ورپسې لکه چې په ۴۰ شکل کې ښودل شوي، په ( ۴۲,۴ سلنه) کې برښنا راځي. پاتې نورو په ترتیب سره ۱۰ سلنه او ۱,۴ سلنه کورنیو د غاز/ خاورو تیل او نورو سرچینو لکه شمع څخه استفاده کوله. زیاتره کورنیو په حصه دوم کوهستان کې ( ۸۵,۹ سلنه)، کوه بند کې ( ۷۵,۵ سلنه)، محمود راقي کې(۶۳,۳ سلنه) او حصه اول کوهستان کې (۵۰,۳ سلنه) د لمریزې انرژي څخه د روښنائي لپاره د غوره سرچینې په توګه استفاده کوله.

برښنا ( د جنراتور، کیبلي او آبي برښنا څخه ) په نجراب کې (۴۶,۸ سلنه) د روښنائي لپاره یوه غوره سرچینه وه. په لسو کې د څلور کورنیو لخوا په حصه اول کوهستان ( ۳۹,۹ سلنه) او په لسو کې د دریو کورنیو لخوا په محمود راقي کې ( ۳۱,۹ سلنه) د روښنائي لپاره د یوې غوره سرچینې په توګه استفاده کیدله.

### ۴۰ شکل: د کورنیو د سلنې ویش د روښنائي لپاره د انرژۍ د غوره سرچینې او ولسوالۍ په توپیر: کاپیسا، وړی ۱۳۹۳




## ۸.۱۱.۵ د څښاک د اوبو، پریمینځلو، اخلې پخلي او د استفادې نورو مواردو لپاره غوره سرچینه

په ټولو پنځو ولسوالیو کې کندل شوي څاګانې د څښاک د اوبو ډیره غوره سرچینه وه ( ۴۰,۵ سلنه). شاوخوا په پنځو کې څلور کورنیو په محمود راقي او په پنځو کې دوه کورنو په حصه دوم کوهستان کې اوبه د دا ډول سرچینې څخه ترلاسه کولې.

په ټولو پنځو ولسوالیو کې په لوړه سلنه کې (۴۴,۱سلنه) کورنیو د څښاک د اوبو رغول شویو سرچینو ته لاس رسی درلود:[11] ۳۵,۰ سلنه له سرپوښلي څاګانو، ۴,۳ سلنه له سرپوښلي چینو، ۳,۵ سلنه له برمه ئي څاګانو او ۱,۳ سلنه په هستوګنځي/ انګړ کې دنني/ ګاونډیانو په کور کې د اوبو له نل څخه اوبه تر لاسه کولې.

د ولسوالیو په منځ کې محمود راقي د څښاک اوبو رغول شویو سرچینو ته د کورنیو د لاس رسی ډیر لوړ نسبت درلود ( ۷۴,۳ سلنه) چې ورپسې حصه دوم

**۱۲ چوکاټ: د کورنیو نسبت چې د څښاک د اوبو له رغاول شویو سرچینو څخه استفاده کوي**

| | |
|---|---|
| کاپیسا* (۱۳۹۳) | ۴۱,۳ |
| پروان*(۱۳۹۳) | ۴۴,۱ |
| کابل*(۱۳۹۲) | ۷۸,۴ |
| غور *(۱۳۹۱) | ۲۰,۳ |
| دایکندی*(۱۳۹۱) | ۱۴ |
| بامیان*(۱۳۹۰) | ۱۵,۵ |
| افغانستان** | ۲۷,۲ |

سرچینه:
*اقتصادي- ټولنیزه او دموګرافیکي سروې
** د ګواښونو او زیان منني ملي سروې ۱۳۹۰-۹۱

۱۱. د څښاک د اوبو په رغول شویو سرچینو کې په کور/ انګړ یا حویلي/ګاوند کې د اوبو نل، برمه ئي څاه، کندل شوي سرپوښلي څاه او سرپوښلي چینه شامليږي.

کوهستان (۵۲,۳ سلنه) قرار لري. په محمود راقي کې کندل شوي سرپوښلي څاګان د څښاک د اوبو رغول شوي غوره سرچینې وې چې ۶۵,۶ سلنه کورنۍ ئې تر پوښښ لاندې نيولې.

یو زیات شمیر کورنیو په حصه اول کوهستان کې(۷۱,۳ سلنه)، حصه دوم کوهستان کې (۴۵,۶ سلنه) او نجراب کې ( ۳۴,۰ سلنه) خپلې د څښاک اوبه د سطحي اوبو لکه سیند، رود یا بیاله، جهیل او ډنډ څخه تر لاسه کولې، په داسې حال کې چې په کوه بند کې د کورنیو ۴۲,۴ سلنه د څښاک اوبه د سرخلاصي چینو څخه لاس ته راوړې.

## ۲۷ جدول: د کورنیو د سلنې ویش د څښاک د اوبو دغوره سرچینې او ولسوالۍ په توپیر: کاپیسا، وړی ۱۳۹۳

| د څښاک اوبو سرچینه | کاپیسا | محمود راقي | حصه دوم کوهستان | کوه بند | حصه اول کوهستان | نجراب |
|---|---|---|---|---|---|---|
| ټول | ۱۰۰,۰ | ۱۰۰,۰ | ۱۰۰,۰ | ۱۰۰,۰ | ۱۰۰,۰ | ۱۰۰,۰ |
| د اوبو نل | ۱,۳ | ۰,۱ | ۰,۲ | ۰,۱ | ۶,۵ | ۰,۰ |
| په هستوګنځي کې نل | ۰,۵ | ۰,۱ | ۰,۱ | ۰,۰ | ۲,۶ | ۰,۰ |
| په انګړ کې نل | ۰,۷ | ۰,۱ | ۰,۰ | ۰,۱ | ۳,۶ | ۰,۰ |
| د ګاونډي په کور کې نل | ۰,۱ | ۰,۰ | ۰,۱ | ۰,۰ | ۰,۳ | ۰,۰ |
| عمومي نل | ۰,۰ | ۰,۰ | ۰,۰ | ۰,۰ | ۰,۰ | ۰,۰ |
| برمه ئې څاه | ۳,۵ | ۶,۲ | ۷,۰ | ۷,۶ | ۱,۲ | ۰,۱ |
| کندل شوي څاه | ۴۰,۵ | ۷۹,۸ | ۴۵,۳ | ۱۹,۵ | ۵,۳ | ۳۵,۸ |
| سرپوښلي څاه | ۳۵,۰ | ۶۵,۶ | ۴۳,۶ | ۱۶,۵ | ۴,۹ | ۳۰,۹ |
| سر خلاصي څاه | ۵,۵ | ۱۴,۳ | ۱,۸ | ۳,۰ | ۰,۴ | ۴,۹ |
| د اوبو چینه | ۱۸,۳ | ۸,۵ | ۱,۹ | ۵۱,۴ | ۱۳,۴ | ۲۶,۹ |
| سرپوښلي چینه | ۴,۳ | ۲,۴ | ۱,۶ | ۹,۰ | ۲,۰ | ۷,۳ |
| سرخلاصي چینه | ۱۴,۰ | ۶,۱ | ۰,۲ | ۴۲,۴ | ۱۱,۳ | ۲۲,۳ |
| سطحي اوبه ( سیند، سیلاب، بند، جهیل، ډنډ، کانال) | ۳۵,۴ | ۴,۸ | ۴۵,۶ | ۱۸,۴ | ۷۱,۳ | ۳۴,۰ |
| نوري | ۱,۰ | ۰,۵ | ۰,۱ | ۲,۹ | ۲,۴ | ۰,۵ |

## ۴۱ شکل: د څښاک اوبو رغاول شویو سرچینو ته د کورنیو د لاس رسي نسبت د ولسوالۍ په توپیر: کاپیسا، وړی ۱۳۹۳



سطحي اوبه همدا راز د پريمنځلو، پخلي او نورو مواردو کې د کورنيو د استفادې لپاره د اوبو د غوره سرچينو په توګه شمېرل کيږي (۵۰،۱ سلنه). ډيرې کورنيو په حصه دوم کوهستان کې ( ۷۷،۵ سلنه ) او حصه اول کوهستان کې (۷۴،۲ سلنه) د دې موخو لپاره له سطحي اوبو څخه استفاده کوله.

## ۲۸ جدول: د کورنيو د سلنې ويش د پريمنځلو، پخلي او د کورنۍ د نورو اړتياو لپاره د اوبو د غوره سرچينې او ولسوالۍ په توپير: کاپيسا، ورى ۱۳۹۳

| د نورو موادرو لپاره د اوبو سرچينه | کاپيسا | محمود راقي | حصه دوم کوهستان | کوه بند | حصه اول کوهستان | نجراب |
|---|---|---|---|---|---|---|
| ټول | ۱۰۰،۰ | ۱۰۰،۰ | ۱۰۰،۰ | ۱۰۰،۰ | ۱۰۰،۰ | ۱۰۰،۰ |
| د اوبو نل | ۱،۳ | ۰،۲ | ۰،۱ | ۰،۰ | ۶،۲ | ۰،۰ |
| په هستوګنځي کې نل | ۰،۵ | ۰،۱ | ۰،۱ | ۰،۰ | ۲،۵ | ۰،۰ |
| په انګړ کې نل | ۰،۷ | ۰،۱ | ۰،۰ | ۰،۰ | ۳،۴ | ۰،۰ |
| د ګاونډي په کور کې نل | ۰،۱ | ۰،۰ | ۰،۰ | ۰،۰ | ۰،۳ | ۰،۰ |
| عمومي نل | ۰،۰ | ۰،۰ | ۰،۰ | ۰،۰ | ۰،۰ | ۰،۰ |
| برمه ئې څاه | ۲،۴ | ۵،۳ | ۴،۱ | ۳،۱ | ۱،۱ | ۰،۱ |
| کندل شوې څاه | ۳۰،۴ | ۷۲،۷ | ۱۷،۵ | ۱۷،۲ | ۲،۷ | ۲۶،۸ |
| سرپوښلې څاه | ۲۵،۴ | ۵۸،۴ | ۱۶،۹ | ۱۴،۷ | ۲،۳ | ۲۲،۶ |
| سر خلاصې څاه | ۵،۰ | ۱۴،۳ | ۰،۵ | ۲،۵ | ۰،۴ | ۴،۱ |
| د اوبو چينه | ۱۴،۵ | ۸،۳ | ۰،۴ | ۳۴،۸ | ۱۳،۲ | ۲۲،۷ |
| سرپوښلې چينه | ۳،۱ | ۲،۱ | ۰،۳ | ۹،۰ | ۱،۰ | ۵،۳ |
| سرخلاصې چينه | ۱۱،۴ | ۶،۲ | ۰،۱ | ۲۵،۸ | ۱۲،۲ | ۱۷،۵ |
| سطحي اوبه ( سيند، سيلاب، بند، جهيل، ډنډ، کانال) | ۵۰،۱ | ۱۲،۸ | ۷۷،۵ | ۴۱،۳ | ۷۴،۲ | ۴۹،۶ |
| ټانکر | ۰،۱ | ۰،۱ | ۰،۱ | ۰،۲ | ۰،۲ | ۰،۱ |
| نورې | ۱،۲ | ۰،۶ | ۰،۴ | ۳،۴ | ۲،۴ | ۰،۷ |

## ۸.۱۱.۶ د ځمکې مالکيت

د کورنيو يو غټ اکثريت کرهنيزه ځمکه درلوده: نجراب ۸۶،۲ سلنه، محمود راقي ۷۷،۱ سلنه، کوه بند ۷۵،۸ سلنه، حصه دوم کوهستان ۷۱،۰ سلنه او حصه اول کوهستان ۵۸،۳ سلنه. د ځمکې اندازه چې ئې درلوده سره له دې هم کمه وه: د ټولو کورنيو ۹۲،۶ سلنه د ۵ جريبو يا ۱۰۰۰۰ متر مربع ( يو جريب = ۲۰۰۰ متر مربع ) څخه د کمې ځمکې څښتنې وې.

۴۲ شکل: د کورنیو نسبت د کرهنیزې ځمکې د مالکیت او ولسوالۍ په توپیر: کاپیسا، ورې ۱۳۹۳




## ۸.۱۱.۷ د څارویو او مرغانو مالکیت

د کاپیسا ولایت په پنځو ولسوالیو کې، ۶۴,۳ سلنه کورنیو لږترلږه یو سر غوا/ د شیدو غوا او یا یو غوائی درلود، د غذا لپاره ( شیدې، مستې، غوښه، غوړي یا تروه) یا د پخلي او ګرمولو په خاطر د سون د توکو (غوشائي) د برابرولو لپاره. زیاتره کورنیو چې غواګانې ئې درلودې (۶۷,۰ سلنه) یوازې یو یا دوه سره ئې درلودل.

د هغو کورنیو نسبت چې میږې ئې درلودې ۲۱,۸ سلنه وه چې ۸۷,۱ سلنې ئې د ۱ـ ۶ سره درلودې، په داسې حال کې چې د کورنیو یو ټیټ نسبت ( ۷,۷ سلنه) وزې درلودې چې د هغې له جملې ۷۵,۶ سلنه ئې د ۱ـ ۶ سره درلودونکې وې.

د کورنیو ډیر ټیټ نسبت ( ۵,۴ سلنه) یوازې یو آس، خر او کچره درلوده. د دې کورنیو یو زیات شمیر ئې (۹۲,۹ سلنه) یوازې یو یا دوه خره، آسونه یا کچرې درلودل.

د مرغانو ساتل د یو زیات شمیر کورنیو ترمنځ چې د څارویو او مرغانو په ساتنه کې بوختې وې یوه معموله چاره وه، ۵۴,۰ سلنه ئې حد اقل یوه دانه چرګه ساتله. ډیرې مرغان د خوراکي اړتیاوو د پوره کولو لپاره ساتل کیدل او ۴۳,۳ سلنه کورنیو د پنځو څخه لږ چرګان ساتل. د کورنیو یو ډیر ټیټ نسبت هیلۍ او فیل مرغان ساتل (۵,۵ سلنه).

د ولسوالیو په منځ کې، د نجراب په ولسوالۍ کې ۷۰ سلنه کورنیو یوه غوا یا یوه چرګه درلوده ( په ترتیب سره ۸۰,۴ سلنه او ۷۰,۲ سلنه). په کوه بند کې شاوخوا نیمائي کورنیو میږې درلودې.

## ۸.۱۱.۸ د کورنۍ شتمنې او آسانتیاوې

لږ تر لږه ۸۰ سلنه کورنیو پخپلو کورونو کې بریښنا درلوده ( محمود راقي ۹۶,۳ سلنه، کوه بند ۹۱,۹ سلنه، حصه اول کوهستان ۹۱,۹ سلنه، حصه دوم کوهستان ۹۱,۷ سلنه او نجراب ۸۳,۵ سلنه).

د موبائیل تیلفون دویمې ډیر معمول ځیز وه ( د ۱۵ څیزونو د لست په منځ کې) چې د کاپیسا په پنځو ولیوالیو کې( ۷۸,۱ سلنه) د کورنیو غړي د هغې څښتن وو. مخابراتي آسانتیاوو ته لاس رسې په ټولو ولسوالیو کې یوه څرګنده اړتیا وه، د ۷۳,۰ سلنې کورنیو څخه په کوه بند کې تر ۸۳,۳ سلنې په حصه اول کوهستان کې.

د رسنیو او مخابراتي سامان الاتو تر منځ پرتله دا په ګوته کوي چې ۶۸,۲ سلنه کې یو زیات شمیر کورنۍ د رادیو څښتنې وې چې ورپسې په ۴۵,۰ سلنه کې تلویزیون قرار لري. د رادیو د مالکیت کچه په حصه اول کوهستان کې ( ۷۷,۳ سلنه) او نجراب کې ( ۷۰,۹ سلنه) ډیره لوړه وه. د تلویزیون مالکیت په حصه اول کوهستان کې ډیر لوړ وه (۶۴,۰ سلنه). ډیر کم شمیر کورنیو

انټرنټ ته لاس رسی درلود چې لوړ نسبت ئې په حصه اول کوهستان کې ( ۲,۹ سلنه) وه. نیږدې ۷,۷ سلنه کورنیو یو موټر درلود د شخصي او یا هم د سوداګریزو چارو لپاره، په داسې حال کې چې ۲,۲ سلنه یوه لاري درلوده. لږترلږه په لسو کې یوې کورنۍ په حصه اول کوهستان کې ( ۱۱,۹ سلنه)، محمود راقي کې ( ۹,۱ سلنه) او حصه دوم کوهستان کې ( ۸,۰ سلنه) یو موټر درلود.

## ۳۰ جدول: د کورنیو نسبت د شتمنۍ/ آسانتیا د ډول د شتون په توپیر: کاپیسا، وړی ۱۳۹۳

| ولایت / ولسوالي | برښنا | راډیو | تلویزیون | سیم لرونکی ټیلفون | یخچال | کالي مینځلو ماشین | انټرنټ | ګړۍ | موبائل ټیلفون | کمپیوټر | بایسکل | موټرسایکل | کراچۍ | موټر | جنراتور | لاری |
|---|---|---|---|---|---|---|---|---|---|---|---|---|---|---|---|---|
| **کاپیسا** | ۹۰,۲ | ۶۸,۲ | ۴۵,۰ | ۰,۶ | ۱,۴ | ۱,۶ | ۱,۷ | ۶۶,۰ | ۷۸,۱ | ۷,۶ | ۲۷,۰ | ۲۳,۸ | ۰,۶ | ۷,۷ | ۶,۲ | ۲,۲ |
| محمود راقي | ۹۶,۳ | ۶۱,۳ | ۴۲,۹ | ۰,۹ | ۳,۵ | ۳,۱ | ۱,۵ | ۶۴,۲ | ۸۰,۳ | ۷,۰ | ۳۲,۰ | ۳۱,۲ | ۱,۰ | ۹,۱ | ۶,۱ | ۳,۱ |
| حصه دوم کوهستان | ۹۱,۷ | ۶۶,۸ | ۴۱,۳ | ۰,۵ | ۱,۰ | ۱,۸ | ۱,۷ | ۵۳,۳ | ۷۶,۵ | ۸,۲ | ۴۷,۲ | ۳۲,۰ | ۱,۱ | ۸,۰ | ۶,۳ | ۲,۹ |
| کوه بند | ۹۱,۹ | ۵۶,۳ | ۳۶,۶ | ۰,۵ | ۰,۱ | ۰,۲ | ۰,۷ | ۵۵,۹ | ۷۳,۰ | ۱,۷ | ۵,۵ | ۲۱,۵ | ۰,۴ | ۴,۰ | ۳,۵ | ۰,۸ |
| حصه اول کوهستان | ۹۱,۹ | ۷۷,۳ | ۶۴,۰ | ۰,۷ | ۱,۶ | ۲,۴ | ۲,۹ | ۶۷,۲ | ۸۳,۳ | ۱۴,۵ | ۵۱,۱ | ۳۲,۲ | ۰,۶ | ۱۱,۹ | ۱۰,۶ | ۳,۰ |
| نجراب | ۸۳,۵ | ۷۰,۹ | ۳۸,۹ | ۰,۴ | ۰,۴ | ۰,۴ | ۱,۲ | ۷۵,۵ | ۷۵,۳ | ۴,۹ | ۳,۱ | ۹,۸ | ۰,۳ | ۴,۸ | ۴,۱ | ۱,۲ |

## ۸.۱۲ د هستوګنځي ځانګړتیاوې

### ۸.۱۲.۱ د بام ودانیز توکي

د کاپیسا ولایت په پنځو ولسوالیو کې زیاتره کورنۍ ( ۹۵,۷ سلنه ) په داسې کورونو کې ژوند کوي چې بامونه ئې د شګې/ خټې ، لرګي/ تختې څخه جوړ شوی وو، په داسې حال کې چې ۲,۳ سلنه په داسې ډول کورونو کې اوسیدل چې د کورونو بامونه ئې د شګې/ خټې د لرګي/ فلز سره، ۱,۱ سلنه په داسې ډول کورونو کې چې بامونه ئې د ګچ / خښتې او فلز سره او پاتې نور ۰,۹ سلنه ئې په داسې کورونو کې چې بامونه ئې له نورو توکو لکه سمنټ د شګې/ خټې او نور څخه جوړ شوي وو، ژوند کاوه.

## ۳۱ جدول: د کورنیو د سلنې ویش د هستوګنځي د بام د غوره ودانیزو توکو او ولسوالۍ په توپیر: کاپیسا، وړی ۱۳۹۳

| ولایت / ولسوالي | شګه/ خټه د لرګي/ تختو سره | شګه/ خټه د لرګي/ فلز سره | ګچ د پخې خښتې / فلز سره | نور |
|---|---|---|---|---|
| کاپیسا | ۹۵,۷ | ۲,۳ | ۱,۱ | ۰,۹ |
| محمود راقي | ۹۳,۱ | ۴,۲ | ۱,۵ | ۱,۲ |
| حصه دوم کوهستان | ۹۵,۳ | ۲,۴ | ۱,۳ | ۰,۹ |
| کوه بند | ۹۹,۴ | ۰,۲ | ۰,۱ | ۰,۲ |
| حصه اول کوهستان | ۹۳,۰ | ۲,۶ | ۲,۲ | ۲,۲ |
| نجراب | ۹۸,۵ | ۱,۱ | ۰,۲ | ۰,۲ |

### ۸.۱۲.۲ د باندنیو دیوالونو ودانیز توکي

شګه/ ډبره د خټې سره د کورونو د باندنیو دیوالونو د ډیرو معمولو ودانیزو توکو څخه وه او د ۸۹,۶ سلنه کورنیو لخوا استفاده شوي وه. د باندنیو دیوالونو د ودانیزو توکو په څیر اومه خښتې د ۷,۰ سلنه کورنیو لخوا او پخه خښته او لرګي د ۲,۶ سلنه کورنیو لخوا استفاده شوي وه. هغه کورنیو چې په داسې ډول کورونو کې ژوند کاوه چې د کورونو باندني دیوالونه ئي د شګې/ ډبرې له خټې سره جوړ شوي وو د ۸۰,۵ سلنې څخه په ( حصه اول کوهستان) کې تر ۹۸,۰ سلنې پورې په ( نجراب) کې جوړوله. د هغو کورنیو نسبت چې په داسې ډول کورونو کې ئې ژوند کاوه چې باندني دیوالونه ئې له اومې خښتې څخه جوړ شوي وو له ۱,۰ سلنې څخه په ( نجراب) کې تر ۱۴,۰ سلنې ته په ( حصه دوم کوهستان ) کې توپیر کوي.

### ۳۲ جدول: د کورنیو د سلنې ویش د هستوګنځي د باندنیو دیوالونو د غوره ودانیزو توکو او ولسوالۍ په توپیر: کاپیسا، وړی ۱۳۹۳

| ولایت/ ولسوالي | شګه/ ډبره د خټې سره | اوومه خښته | پخه خښته او لرګي | نور |
|---|---|---|---|---|
| کاپیسا | ۸۹,۶ | ۷,۰ | ۲,۶ | ۰,۹ |
| محمود راقي | ۹۲,۹ | ۳,۲ | ۲,۷ | ۱,۱ |
| حصه دوم کوهستان | ۸۱,۵ | ۱۴,۰ | ۳,۱ | ۱,۴ |
| کوه بند | ۸۵,۲ | ۱۳,۰ | ۱,۶ | ۰,۱ |
| حصه اول کوهستان | ۸۰,۵ | ۱۲,۸ | ۵,۷ | ۱,۰ |
| نجراب | ۹۸,۰ | ۱,۰ | ۰,۵ | ۰,۵ |

### ۸.۱۲.۳ د غولي ودانیز توکي

ډیرې کورنیو ( ۹۳,۸ سلنه) په داسې کورونو کې ژوند کاوه چې د کوټو غولي ئې د بیدیائې شګو په واسطه پوښل شوي وو، په داسې حال کې چې په سلو کې ۳,۸ کورنیو په داسې کورونو کې ژوند کاوه چې غولي ئې په سمنټو سره پوښل شوي وو. د هغو کورنیو شمیر کومو چې په داسې ډول کورونو کې ژوند کاوه چې غولي ئې په بیدیائې شګو/ خاورو سره پوښل شوي وو په هره ولسوالۍ کې لړترلږه ۸۵ سلنه جوړوله په کومو کې چې نجراب د ۹۷,۹ سلنې په درلودلو سره په لوړه کچه کې قرار درلود او وروسته په ۹۵,۴ سلنه کې حصه دوم کوهستان قرار لري. په کوه بند کې د کورنیو ۶,۸ سلنې د سمنټ څخه د غولي د پوښ د موادو په څیر استفاده کړې وه.

### ۳۳ جدول: د کورنیو د سلنې ویش د هستوګنځي د غولي د غوره ودانیزو توکو او ولسوالۍ په توپیر: کاپیسا، وړی ۱۳۹۳

| ولایت / ولسوالي | لوټې/ شګه | سمنټ | سایر |
|---|---|---|---|
| کاپیسا | ۹۳,۸ | ۳,۸ | ۲,۳ |
| محمود راقي | ۹۴,۳ | ۵,۰ | ۰,۷ |
| حصه دوم کوهستان | ۹۵,۴ | ۳,۲ | ۱,۴ |
| کوه بند | ۸۴,۷ | ۶,۸ | ۸,۴ |
| حصه اول کوهستان | ۸۸,۴ | ۴,۹ | ۶,۷ |
| نجراب | ۹۷,۹ | ۲,۰ | ۰,۰ |

### ۸.۱۲.۴ د هستوګنی واحد مالکیت

د سروې شوي کورنیو شاوخوا ۹۶,۱ سلنه په داسې کورونو کې ژوند کاوه چې د هغې څښتني وې؛ په سلو کې ۰,۵ ئې کورونه په کرایه نیولي وو او ۳,۳ په سلو کې په وړیا هستوګنځیو کې ژوند کاوه. په هره ولسوالۍ کې په سلو کې لړترلږه ۹۵ کورنیو په داسې کورونو کې ژوند کاوه چې د هغې څښتني وې چې ډیره لوړه سلنه ۹۷,۴ ئې په کوه بند کې ثبت شوي ده. په محمود راقي کې ۲,۴ سلنه کورنیو په وړیا کورونو کې ژوند کاوه، په داسې حال کې چې ۰,۶ سلنه کورنیو کورونه په کرایه نیولي وو.

۳۴ جدول: د کورنیو د سلنې ویش د هستوګنې واحد د تصرف د وضعیت او ولسوالۍ په توپیر: کاپیسا، وری ۱۳۹۳

| ولایت / ولسوالي | شخصي | کرائي | ګروي | وړیا |
|---|---|---|---|---|
| کاپیسا | ۹۶,۱ | ۰,۵ | ۰,۱ | ۳,۳ |
| محمود راقي | ۹۶,۹ | ۰,۶ | ۰,۱ | ۲,۴ |
| حصه دوم کوهستان | ۹۶,۱ | ۰,۳ | ۰,۲ | ۳,۴ |
| کوه بند | ۹۷,۴ | ۰,۲ | ۰,۰ | ۲,۴ |
| حصه اول کوهستان | ۹۵,۴ | ۰,۹ | ۰,۱ | ۳,۷ |
| نجراب | ۹۵,۸ | ۰,۳ | ۰,۱ | ۳,۸ |

### ۸.۱۲.۵ د تشناب د آسانتیا دول

یوازې ۱,۹ سلنه کورنیو راپور ورکړی چې د یونیسف د تعریف له مخې د حفظ الصحې د یوې رغول شوي آسانتیا درلودونکې وې[۱۲]. په دغو کې هغه کموډ چې سپټیک خاه ته توئیرې یا کموډ لرونکې تشناب ( ۱,۴ سلنه )، کموډ چې د فاضله اوبو سیستم کې توئیرې یا هواکش لرونکې تشناب د سرپوښ سره (۰,۴ سلنه ) او هغه تشناب چې انساني مدفوع په کې تجزیه کیږي ( ۰,۱ سلنه) شامليږي.

د کاپیسا ولایت په څلورو ولسوالیو کې په لسو کې نهه کورنیو د تشناب له معمولې ډول څخه په کوم کې چې انساني مدفوع د ځمکې په سر په کې راټول او وخت په وخت تشیدلاې شي، استفاده کوله.

**۱۳ چوکاټ: د کورنیو نسبت چې د حفظ الصحې د آسانتاوو څخه استفاده کوي**

| | |
|---|---|
| کاپیسا* (۱۳۹۳) | ۱,۹ |
| پروان*(۱۳۹۳) | ۶,۸ |
| کابل*(۱۳۹۲) | ۴۳,۸ |
| غور *(۱۳۹۱) | ۲,۳ |
| دایکندی*(۱۳۹۱) | ۱,۴ |
| بامیان*(۱۳۹۰) | ۱۲,۷ |
| افغانستان** | ۶,۰ |

سرچینه:
*اقتصادي- ټولنیزه او دموګرافیکي سروې
** د ګواښونو او زیان منني ملي سروې ۱۳۹۰-۹۱

۴۳ شکل: د کورنیو نسبت د حفظ الصحې یوې رغول شوي آسانتیا ته د لاس رسي سره د ولسوالۍ په توپیر: کاپیسا، وری ۱۳۹۳




۱۲. د حفظ الصحې په رغول شویو آسانتیاوو کې هغه کموډ چې سپټیک خاه ته توئیرې، کموډ لرونکې تشناب، کموډ چې د فاضله اوبو سیستم کې توئیرې، هواکش لرونکې تشناب، سرپوښ لرونکې تشناب او هغه تشناب چې انساني مدفوع په کې تجزیه کیږي، شامليږي.

### ۳۵ جدول: د کورنیو د سلنې ویش د تشناب د آسانتیا د ډول او ولسوالۍ په توپیر: کاپیسا، وری ۱۳۹۳

| ولایت / ولسوالي | رغاول شوي | | | | نا رغاول شوي | | | |
|---|---|---|---|---|---|---|---|---|
| | ټول | کموډ چې سیپټیک ځاه ته توئیږي/د فاضله اوبو سیستم ته توئیږي | هواکش لرونکی تشناب/ رغاول شوي سرپوښ لرونکي تشناب | کموډ چې انساني مدفوع په کې تجزیه کیږي | ټول | معمولي تشناب | بې سرپوښه تشناب | کموډ چې بل چیرته توئیږي/ نامعلوم ځای | نور |
| کاپیسا | ۱,۹ | ۱,۴ | ۰,۴ | ۰,۱ | ۹۸,۱ | ۹۵,۲ | ۰,۱ | ۰,۳ | ۲,۶ |
| محمود راقي | ۳,۱ | ۲,۴ | ۰,۵ | ۰,۲ | ۹۶,۹ | ۹۴,۶ | ۰,۲ | ۰,۲ | ۱,۹ |
| حصه دوم کوهستان | ۲,۰ | ۱,۶ | ۰,۳ | ۰,۱ | ۹۸,۰ | ۹۷,۳ | ۰,۰ | ۰,۰ | ۰,۶ |
| کوه بند | ۱,۳ | ۰,۷ | ۰,۶ | ۰,۰ | ۹۸,۷ | ۷۲,۴ | ۰,۲ | ۰,۵ | ۲۵,۶ |
| حصه اول کوهستان | ۲,۲ | ۱,۸ | ۰,۳ | ۰,۲ | ۹۷,۸ | ۹۷,۲ | ۰,۰ | ۰,۵ | ۰,۱ |
| نجراب | ۱,۱ | ۰,۶ | ۰,۴ | ۰,۱ | ۹۸,۹ | ۹۸,۱ | ۰,۱ | ۰,۳ | ۰,۵ |

## ۸.۱۲.۶ د هستوګنې په واحد کې د کوټو شمیر چې کورنۍ ئې په واک کې لري او د ویده کیدلو لپاره د کوټو شمیر

۳۶ جدول د کورنیو ویش د هستوګنې په واحد کې ئې د کوټو د شمیر او د کورنۍ د اندازې په بیلوالي ښئي. دغه ارقام دا ښئي چې آیا اوسیدونکي ئې د ګڼه ګوڼې په شرایطو کې ژوند کوي یا نه، کوم چې کولای شي د هغو کسانو پر جسمي او رواني روغتیا باندې چې په کې اوسیږي او د ماشومانو پر ودې منفي اغیزه ولري.

د کوټو اړوند ،، د هستوګنې واحد کوټې ،، عبارت دي له د ویده کیدلو کوټې، د ډوډۍ خونې، د ناستې کوټې، د مطالعې خونې او د خدمت ګارانو کوټو څخه خو پخلنځۍ او تشنابونه په کې ندي شامل.

شاوخوا ۲۸,۶سلنه کورنیو د ۱۰ یا ترهغې زیاتو غړیو سره د هستوګنې په درې کوټیزه واحدونو او په سلو کې ۲۷,۳ کورنیو د هستوګنې په څلور کوټیزه واحدونو کې ژوند کاوه. یوازې په سلو کې ۱۵,۸ کورنیو د ۱۰ یا تر هغې زیاتو غړیو درلودونکو د هستوګنې په داسې ډول واحدونو کې ژوند کولو چې شپږ یا تر شپږو زیاتې کوټې ئې درلودلې.

## جدول ۳۶. توزیع فیصدی خانوار ها به تفکیک تعداد اطاق در در اختیار شان و اندازه خانوار: کاپیسا،سنبله ۱۳۹۳

| د کورنۍ اندازه | د کورنۍ په واک کې د کوټو شمیر | | | | | |
|---|---|---|---|---|---|---|
| | یوه | دوه | درې | څلور | پنځه | ۶ او زیاتې |
| ټول | ۱۱,۶ | ۳۲,۷ | ۲۷,۲ | ۱۶,۵ | ۵,۸ | ۶,۲ |
| ۱ کسیزه | ۴۹,۵ | ۳۲,۸ | ۱۱,۷ | ۴,۴ | ۱,۴ | ۰,۳ |
| ۲ کسیزه | ۳۱,۹ | ۳۹,۴ | ۱۷,۷ | ۵,۷ | ۲,۷ | ۲,۵ |
| ۳ کسیزه | ۲۶,۹ | ۴۱,۱ | ۱۹,۶ | ۶,۷ | ۳,۶ | ۲,۱ |
| ۴ کسیزه | ۲۲,۰ | ۴۰,۶ | ۲۲,۷ | ۹,۰ | ۳,۰ | ۲,۷ |
| ۵ کسیزه | ۱۴,۴ | ۳۹,۳ | ۲۶,۵ | ۱۲,۷ | ۴,۲ | ۲,۹ |
| ۶ کسیزه | ۱۰,۱ | ۳۷,۶ | ۲۷,۲ | ۱۶,۷ | ۳,۹ | ۴,۴ |
| ۷ کسیزه | ۷,۸ | ۳۵,۷ | ۳۱,۵ | ۱۵,۶ | ۴,۹ | ۴,۴ |
| ۸ کسیزه | ۵,۱ | ۳۲,۴ | ۳۲,۷ | ۱۹,۰ | ۵,۱ | ۵,۵ |
| ۹ کسیزه | ۲,۶ | ۲۷,۷ | ۳۱,۵ | ۲۲,۲ | ۸,۳ | ۷,۷ |
| ۱۰ کسیزه او زیات | ۱,۲ | ۱۵,۴ | ۲۸,۶ | ۲۷,۳ | ۱۱,۷ | ۱۵,۸ |

شاوخوا ۱۲ـ۱۶ سلنه کورنیو په یوه کوټیزه او۳۱ ـ ۴۲ سلنه په دوه کوټیزه د هستوګنې په واحدونو کې ژوند کاوه.

نجراب او محمود راقي د داسې کورنیو ډیره لوړه سلنه درلوده کومو چې د پنځو او یا زیاتو کوټو لرونکي د هستوګنې په واحد کې ئې ژوند کاوه په ترتیب سره ۱۴,۹ او ۱۴,۶ سلنه ( ۳۷ جدول). په نورو ولسوالیو کې، دغه سلنه د ۷,۶ څخه په حصه دوم کوهستان کې تر ۱۰,۶ سلنې پورې په کوه بند کې قرار لري. په حصه اول کوهستان  ۸۰,۱ سلنه کورنیو په داسې ډول هستوګنځایونو کې ژوند کاوه چې ۲ـ۴ کوټې ئې درلودې.

## ۳۷ جدول: د کورنیو د سلنې ویش د هستوګنځي د کوټو د شمیر چې په واک کې ئې لري او ولسوالۍ په توپیر: کاپیسا، وږی ۱۳۹۳

| ولایت / ولسوالي | د کورنیو په واک کې د کوټو شمیر | | | | | |
|---|---|---|---|---|---|---|
| | یوه | دوه | درې | څلور | پنځه | ۶ او زیاتې |
| کاپیسا | ۱۱,۶ | ۳۲,۷ | ۲۷,۲ | ۱۶,۵ | ۵,۸ | ۶,۲ |
| محمود راقي | ۱۳,۰ | ۳۱,۴ | ۲۵,۳ | ۱۵,۷ | ۶,۶ | ۸,۰ |
| حصه دوم کوهستان | ۱۶,۲ | ۳۷,۲ | ۲۵,۵ | ۱۳,۵ | ۴,۲ | ۳,۴ |
| کوه بند | ۱۵,۳ | ۴۱,۷ | ۲۲,۹ | ۹,۶ | ۵,۷ | ۴,۹ |
| حصه اول کوهستان | ۱۱,۷ | ۳۳,۳ | ۲۹,۹ | ۱۶,۹ | ۴,۲ | ۳,۹ |
| نجراب | ۷,۲ | ۲۹,۰ | ۲۹,۰ | ۱۹,۹ | ۷,۰ | ۷,۹ |

۳۸ جدول د کاپيسا ولايت په پنځو ولسواليو کې د کورنيو ويش د هستوګنې په واحد کې ئې د کوټو د شمير چې د ويده کيدو لپاره استفاده کيږي او د کورنۍ د اندازې په بيلوالي ښئي. دغه ارقام د هستوګنې په واحد کې د ګڼې ګوڼې يو ډير خالص شاخص برابروي او همدارنګه د هغو کسانو د پټوني او حلوت درجه چې په کې ژوند کوي انعکاسوي. په پنځو ولسواليو کې ۳۱٫۲ سلنه کورنيو د اندازې د په پام کې نيولو پرته پخپلو د هستوګنې په واحدونو کې د ويده کيدلو لپاره يوه کوټه درلوده، په داسې حال کې چې ۴۳٫۲ سلنې د ويده کيدلو لپاره دوه کوټې درلودلې.

## ۳۸ جدول: د کورنيو د سلنې ويش د ويده کيدلو لپاره د کوټو د شمير او د کورنۍ د اندازې په توپير: کاپيسا، ورۍ ۱۳۹۳

| د کورنۍ اندازه | د ويده کيدلو لپاره د کوټو شمير | | | | | |
|---|---|---|---|---|---|---|
| | يوه | دوه | درې | څلور | پنځه | ۶ او زيات |
| ټول | ۳۱٫۲ | ۴۳٫۲ | ۱۷٫۷ | ۵٫۵ | ۱٫۴ | ۰٫۹ |
| ۱ کسيزه | ۹۲٫۴ | ۶٫۷ | ۰٫۳ | ۰٫۶ | ۰٫۰ | ۰٫۰ |
| ۲ کسيزه | ۷۴٫۸ | ۲۰٫۶ | ۳٫۱ | ۰٫۷ | ۰٫۴ | ۰٫۴ |
| ۳ کسيزه | ۶۳٫۱ | ۳۰٫۱ | ۴٫۳ | ۱٫۸ | ۰٫۵ | ۰٫۱ |
| ۴ کسيزه | ۵۲٫۸ | ۳۷٫۹ | ۷٫۰ | ۱٫۷ | ۰٫۵ | ۰٫۱ |
| ۵ کسيزه | ۳۹٫۶ | ۴۷٫۲ | ۱۰٫۹ | ۲٫۱ | ۰٫۲ | ۰٫۰ |
| ۶ کسيزه | ۳۲٫۸ | ۴۸٫۹ | ۱۴٫۲ | ۳٫۱ | ۰٫۶ | ۰٫۴ |
| ۷ کسيزه | ۲۴٫۷ | ۵۳٫۸ | ۱۶٫۷ | ۳٫۶ | ۰٫۸ | ۰٫۳ |
| ۸ کسيزه | ۱۷٫۲ | ۵۵٫۲ | ۲۰٫۹ | ۵٫۳ | ۰٫۹ | ۰٫۴ |
| ۹ کسيزه | ۱۱٫۹ | ۵۱٫۳ | ۲۷٫۲ | ۷٫۵ | ۱٫۳ | ۰٫۸ |
| ۱۰ کسيزه او زيات | ۵٫۴ | ۳۴٫۶ | ۳۶ | ۱۵٫۵ | ۴٫۷ | ۳٫۸ |

شا وخوا ۷۰٫۶ سلنه کورنيو د خپلو۱۰ او يا تر هغې زياتو غړيو سره په داسې ډول د هستوګنې په واحدونو کې ژوند کاوه چې د ويده کيدلو لپاره ئې ۲ ــ ۳ کوټې درلودې. نورو ۵۱٫۳ سلنه کورنيو د خپلو ۹ غړيو سره په داسې ډول د هستوګنې په واحدونو کې ژوند کاوه چې د ويده کيدلو لپاره ئې دوه کوټې درلودې. يوازې په سلو کې ۸٫۵ کورنيو چې لس او تر هغې زيات غړې ئې درلودل په داسې ډول د هستوګنې په واحدونو کې ژوند کاوه چې د ويده کيدلو لپاره ئې پنځه او يا تر پنځو زياتې کوټې درلودلې.

# ضمیمې

## اصطلاحات

**د لوړ عمر د سواد میزان:** د ۱۰ کلنو او تر هغې پورته کسانو سلنه چې کولاې شي ولولي او ولیکي.

**د باردوشي نسبت:** د ۰ـ۱۴ کلن او د ۶۵ کلن او تر هغې پورته عمري ګروپونو کې کسانو د شمیر نسبت د ۱۵ـ۶۴ کلنې په ډیر مؤلد عمري ګروپونو کې د کسانو پر شمیر باندې کې په سلنه ښودل کیږي.

**وظیفوي ستونزه:** د وظیفوي ستونزې لرونکې یو کس د وظیفو په اجرا کې ممکنه ده د فعالیت محدودیت ولري چې د حفیف محدودیت څخه تر جدي انحراف پورې د کیفیت یا کمیت له پلوه د یوه فعالیت په ترسره کولو کې په هغه طریقه یا اندازې سره چې د روغتیائي ستونزې پرته کسانو څخه هیله کیږي، توپیر وکړي. په عمومي ډول هغه وظیفوي ستونزې چې د کسانو په واسطه تجربه کیږي ممکنه ده د هغوې د وظیفوي ستونزې له امله ( لکه لنډ مهاله او اوږد مهاله ټپونه ) فکري یا عاطفي ستونزه یا د الکولو او مخدره توکو څخه د استفادې له کبله وي. روغتیائي ستونزه همدا راز ممکنه ده زیاتره حالات لکه امیندواري، زوړوالی، افسردګي او یا ارثي نیمګړتیاوې په بر کې ونیسي. ستونزه معمولاً هله څرګندیږي چې یو کس د زیات کوښښ سره، ناراحتي یا درد، وروالی یا په طریقه کې بدلون چې په کې فعالیت په عادي ډول صورت مومي، فعالیت تر سره کړي.

**د ښباک اوبو رغاول شوي سرچینه:** د ښباک اوبو رغاول شوي سرچینه داسې یوه سرچینه تعریف شوي ده چې جوړښت ئې د طبیعت په واسطه یا د فعالې مداخلې له لارې د باندنی ککړتیا په ځانګړې ډول د مدفوعي موادو څخه ساتل شوي وي. په دغه سرچینه کې د هستوګنځي، انګړ او د ګاوندي په کور کې دننې د اوبو نل، برمه ئې څاه، سرپوښلی څاه او سرپوښلي چینه شاملیږي.

**د حفظ الصحې رغاول شوي آسانتیا:** د زریزې د پرمختیائي موخو څخه د څارنې لپاره هغه آسانتیا تعریف شوي چې په صحي ډول انساني مدفوع د انسان سره له تماس څخه جلا کړي. په دا ډول آسانتیا کې د فاضله اوبو په سیستم کې د مدفوع توئیدل، څاه یا سپتیک ټانک، هواکش لرونکې رغاول شوې تشناب یا سرپوښ لرونکې تشناب او هغه تشنابونه چې مدفوع په کې تجزیه کیږي، شاملیږي.

**په ښوونځي کې د حضور خالص میزان:** د عمر په هغه ګروپ کې د ماشومانو نسبت چې د ښوونځي د رسمي عمر سره سمون لري د ښوونځي د رسمي عمر په مجموع باندې. د لومړنۍ دورې لپاره ۷ـ۱۲ کلن چې په ۱ـ۶ ټولګي کې حضور لري، د منځنۍ دورې لپاره ۱۳ـ۱۵ کلن چې په ۷ـ۹ ټولګي کې حضور لري او د لیسې لپاره ۱۶ـ۱۸ کلن چې په ۱۰ـ۱۲ ټولګي کې حضور لري او مسلکي زده کړې او لوړې زده کړې ۱۹ـ۲۴ کلن چې په ۱۳ او تر هغې پورته ټولګي کې حضور لري.

**د جنس نسبت:** د نفوس په یوه مجموعه کې د جنسونو متناسب ویش دی چې د هرو ۱۰۰ تنو ښځینه و په مقابل کې د نارینه و د شمیر په واسطه بیانیږي.

## د عمر د ارقامو کیفیت

د ۰ تر۴ کلنۍ نسبتآ کوچني د عمر ګروپ چې په الف ۱ شکل کې ښودل شوی ده، د دریو ممکنه غوره دلیلونو ښکارندوې دی:

۱) په تیرو څو لسیزو کې د زیږیدنو کموالی ( د ۷٫۱ ماشومانو څخه د ۱۳۵۸[۱۳] تر ۶٫۳ ماشومانو پورې په ۱۳۸۶[۱۴] کال کې)،

۲) په ډیرو ځوانو عمرونو کې د ماشومانو حذف زیاتره د نوي زیږیدلو په څیر کوم چې په زیاتره هیوادونو کې معمول دی او

۳) ښائی د ۰ـ۴ کلنی د عمر ګروپ د کمې راپور ورکونې ونډه او همدارنګه ځنې د زاړه عمر په ګروپ کې زیاتوالي.

د سروې کوونکو او یا ځواب ورکوونکو تمایل چې څه برخه ځانګړې عمرونه د نورو عمرونو په قیمت باندې راپور ورکړی د عمر انباشتګي، د عمر رجحان یا د اعدادو رجحان نومول کیږي. عددي رجحان عبارت دی له خاصو عمرونو ته د ترجیح ورکولو څخه چې په معینو اعدادو باندې ختمیږي. د ۰ او ۵ عددونو ترجیح ډیره پراخه ده.

۱۳. د افغانستان د سرشمیرنې لومړنۍ پایلې، ۱۳۵۸
۱۴. د ګوابښونو او زیان منونې ملي ارزونه ۱۳۸۶/۸۷ (د افغانستان پروفیل).

الف ۱ شکل د نفوسو د منفردو کلونو د عمر ارقام ښيي د هغو عمرونو لپاره چې په صفر او د ۵ په عدد باندې پای ته رسيږي ارجحيت په ګوته کوي. د منفردو عمرونو په ارقامو کې د نفوس د ټاکلي ګروپ خالصه کم شميرنه او د راپور ورکونې او يا د عمر ناسم تعيين د ممکنه اشتباه ګانو څخه دي. نوي زيږيدلي او يا د صفرعمر لاندې ماشومان زياتره د والدينو د علاقمندۍ له مخې چې فکر نه کوې دوې ئې د کورنۍ غړي دي راپور نه ورکول کيږي. د نوی زيږيدلو او ماشومانو ډير لږ شميرکوم چې د يوه کلنۍ په عمر کې دي د هغو ماشومانو په پرتله چې عمرونه ئې د ۲ـ۴ کلونو ترمنځ دي د پام وړ ډول په سروې کې د ادا ډول ماشومانو د کم پوښښ وړانديز کوي.

## شکل الف ۱ نفوس سنين منفرد به تفکيک جنس: کاپيسا، سنبله ۱۳۹۳




## الف ۱ جدول: د عمر د رجحان شاخص د ولسوالۍ په توپير: کاپيسا، وږی ۱۳۹۳

| ولايت / ولسوالي | مايرز شاخص | ويپلز شاخص |
|---|---|---|
| کاپيسا | ۲۱,۳ | ۲۳۱,۲ |
| محمود راقي | ۲۰,۷ | ۲۳۴,۷ |
| حصه دوم کوهستان | ۲۳,۴ | ۲۵۸,۳ |
| کوه بند | ۴۶,۹ | ۲۵۰,۱ |
| حصه اول کوهستان | ۲۲,۱ | ۲۳۱,۶ |
| نجراب | ۲۰,۱ | ۲۱۲,۶ |

د عمر د رجحان دوه شاخصه، د مايرز بلينديد شاخص او د ويپلز شاخص په الف۱جدول کې ښودل شوي دي. د ماير شاخص د رجحان په هر آخري عدد باندې سنجش کېږي او د تيوري له پلوه د ۰ په محدوده کې چې د آخري عدد لپاره د هيڅ ډول رجحان يا انباشتګي ښودونکي ندي،۹۰ ته په هغه صورت کې چې ټول عمرونه په يوه سروې کې داسې راپور ورکړل شوی وی چې په يوه ځانګړي عدد باندې ختميږي، قرار لري. په عين حال کې د ويپلز شاخص په هغه عمرونو کې چې په ۰ او ۵ ختميږي انباشتګي اندازه ګيري کوي. د ۱۰۰ په محدوده کې تر۵۰۰ په ۰ او ۵ د ختم

شویو عددونو د عدم رجحان ښودونکی دی او په پایله کې دا ښيئ چې عمرونه یوازې په ۰ او۵ ختم شوي عددونو باندې راپور ورکړل شوي دی. د کاپیسا ولایت د پنځو ولسوالیو لپاره د مایرز شاخص ۲۱,۳ دی، په داسې حال کې چې د ویپلز شاخص۲۳۱,۲ دی. دغه شاخصونه نظر اړونده ارقامو ته چې د افغانستان لپاره سنجول شوي دي ډیر لوړ دي او په ترتیب سره ۲۰,۶ او ۲۲۳ دي. (الف ۱ چوکاټ). د ولسوالی په کچه د مایرز شاخص د ۲۰,۱څخه تر ۴۶,۹ پورې محدوده کې قرار لري، په داسې حال کې چې دغه محدوده د ویپلز د شاخص لپاره د ۲۱۲,۶ څخه تر ۲۵۸,۳ پورې دی.

**الف ۱ چوکاټ: د عمر د رجحان شاخصونه**

| | ویپلز شاخص | مایرز شاخص |
|---|---|---|
| کاپیسا* (۱۳۹۳) | ۲۱,۳ | ۲۳۱,۲ |
| پروان*(۱۳۹۳) | ۲۲,۸ | ۲۳۷,۱ |
| کابل*(۱۳۹۲) | ۲۱,۴ | ۲۳۰,۲ |
| غور *(۱۳۹۱) | ۵۳,۱ | ۳۸۸,۱ |
| دایکندی*(۱۳۹۱) | ۲۳,۸ | ۲۴۳,۶ |
| بامیان*(۱۳۹۰) | ۲۷,۸ | ۲۸۲,۲ |
| افغانستان** | ۲۰,۶ | ۲۲۳ |

سرچینه:
* اقتصادي- ټولنیزه او دموګرافیکي سروې
** د ګواښونو او زیان منني ملي سروې ۱۳۹۰-۹۱

د ۵ کلنۍ د عمر په ګروپونو کې د ارقامو ښودل تمایل لري، څنې بې نظمۍ چې د منفردو عمرونو په ارقامو کې په ځانګړې ډول د عمر انباشتګي یا عددونو ته په رجحان کې شتون لري، حد اقل ته راکمې کړي. د نفوسو د ځینو ګروپونو حذف مثلآ کم عمره ماشومان، په ځانګړي ډول تر یوه کاله کم ماشومان، زاړه خلک او څوان ګرځنده کسان چې د خپلو کورونو څخه لیرې کار کوي لا تر اوسه هم کولای شي د عمر د ګروپ ارقامو کیفیت اغیزمن کړي.

**الف ۲ چوکاټ: د ملګرو ملتونو د عمر- جنس د دقت شاخص**

| | |
|---|---|
| کاپیسا* (۱۳۹۳) | ۴۰,۳ |
| پروان*(۱۳۹۳) | ۳۹,۳ |
| کابل*(۱۳۹۲) | ۴۶,۷ |
| غور *(۱۳۹۱) | ۸۸,۳ |
| دایکندی*(۱۳۹۱) | ۶۷,۸ |
| بامیان*(۱۳۹۰) | ۶۸,۴ |

سرچینه:
* اقتصادي- ټولنیزه او دموګرافیکي سروې

د عمر ګروپ او جنس د ارقامو یو معمول معیار د ملګرو ملتونو د عمر او جنس د دقت شاخص دی. د سرشمیرنې د عمر او جنس ارقام د ملګرو ملتونو په واسطه هله دقیق ګڼل کیږي چې شاخص له ۲۰ کم وي. پرته له هغې د عمر او جنس ارقام دقیق نه دی. دغه شاخص باید چې په احتیاط سره تعبیر شي، څنګه چې دا شاخص د نفوسو د عمر په ویش کې ریښتینې بی نظمې د مهاجرت له امله او د جګړې څخه رامنځ ته شوي مړینې د بیلګې په ډول ممکنه ده د کاپیسا ولایت د پنځو ولسوالیو د ارقامو کیفیت ئې اغیزمن کړی وی، په ګوته کوي. د ملګرو ملتونو د عمر او جنس د دقت شاخص د کاپیسا ولایت د پنځو ولسوالیو لپاره ۳۹,۳ دی چې د ټولو نورو ولایتونوپه نسبت چې اقتصادي- ټولنیزه او دیموګرافیکي سروې په کې تر سره شوي ده، ټیټ دی. د ولسوالۍ په کچه دغه شاخص د ۴۴,۲ څخه د حصه اول کوهستان لپاره تر ۹۰ پورې د کوه بند لپاره توپیر کوي. همدارنګه، دې ته باید پاملرنه وشي کله چې د عمر د متقاطع جدولونو له شاخصونو څخه استفاده کیږي.

## الف ۲ جدول: د عمر او جنس د دقت شاخص د ولسوالۍ په توپیر: کاپیسا، وری ۱۳۹۳

| ولایت / ولسوالي | شاخص (٪) |
|---|---|
| کاپیسا | ۳۹,۳ |
| محمود راقي | ۵۱,۷ |
| حصه دوم کوهستان | ۵۲,۰ |
| کوه بند | ۹۰,۰ |
| حصه اول کوهستان | ۴۴,۲ |
| نجراب | ۴۷,۹ |

# مآخذونه

Kabul Province Socio-Demographic and Economic Survey: ,(۲۰۱۵) Central Statistics Organization
[Highlights of Results. Kabul, CSO. [SDES

Afghanistan : ۱۲–۲۰۱۱ National Risk and Vulnerability Assessment ,(۲۰۱۴) Central Statistics Organization
[۱۲–۲۰۱۱ Living Condition Survey. Kabul, CSO. [NRVA

Ghor Socio-Demographic and Economic Survey: Final Report. ,(۲۰۱۴) Central Statistics Organization
[Kabul, CSO. [SDES

Bamiyan Socio-Demographic and Economic Survey: Final ,(۲۰۱۳) Central Statistics Organization
.Report

,National Risk and Vulnerability Assessment ,(۲۰۰۹) Central Statistics Organization and European Union
.A Profile of Afghanistan. Kabul, Afghanistan: Jehoon Printing Press :۸/۲۰۰۷

http://afghanag.ucdavis.edu/country-info/Province-agriculture-profiles/kapisa/Kapisa.pdf

Islamic Republic of Afghanistan ,۲۰۱۲ The Millennium Development Goals ,(۲۰۱۲) Ministry of Economy
:Kabul, Afghanistan .۲۰۱۲ MDG Report

۲۰٪.۲۰۲۰۱۲٪.۲۰MDGs٪.http://www.af.undp.org/content/dam/afghanistan/docs/MDGs/Afghanistan
Report.pdf

Tools for (۲۰۱۳) .(Moultrie TA, RE Dorrington, AG Hill, K Hill, IM Timæus and B Zaba (eds
Demographic Estimation. Paris: International Union for the Scientific Study of Population. http://
demographicestimation.iussp.org/content/evaluation-data-recent-fertility-censuses. Accessed
.۲۰۱۴/۰۶/۲۳

Manual X: Indirect Techniques for Demographic Estimation. New York, United ,(۱۹۸۳) United Nations
.Nations

Principles and ,(۲۰۰۷) United Nations Department of Economic and Social Affairs Statistics Division
.Recommendations for Population and Housing Censuses. New York, United Nations





From
the People of Japan

UNFPA